

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان « خادم »

د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنی له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهی ګلونه

مؤلف

قیام الدین « خادم »

دپښتو ټولنی دداٸرةالمعارف دترجمې دڅانګی مدیر

۱۳۲۵

دکابل

عمومی مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

دبهار گـلونه شويدى كه نه دى ؟     بلبلان پسى ناري وهى رحمانه !

«رحمان»

* * *

په بلبلو زيرى وكړه : بيا بهاردى     دسوندك موندك سپلى اخرى كيښي

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبـلـبل يا دبو را زده

«خوشحال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقريظ:

# روهي گلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړ بد لی
سترګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
( خوشحال )

دا ښکلی ګلونه چه د ښاغلی خادم په زيار راغونډ شوی دی او د پښتو ادب مينانو ته د سوغات په توګه وړاندی کېږی ، هغه ګلونه دی چه پښتنو د پخوا نيو شاعرانو د زړه په وينو روزلی شوی دی .

ښه ګه چه تر اوسه پوری د پښتو ژبی په ادبياتو کښی داسی يو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلی خادم (چه د پښتو يو پيا وړی اديب دی) په دې کارګوتی پوری کړی او بريالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه داخپله وظيفه ګڼی چه ددی فاضل دا دستايلو وړ خدمت وستايی اوپه دې انتخاب ده ته تبريك ووايی اوهم په دې ګلونو سره دهغو برد يسانو روح ښاد اوياد کړی چه دوی به د خوازه وطن په بيلتون کښی ويل :

قا صدان له روهه نه را ځی مدت شو
سلا م باد را رسوی منت ئې تم دی

او له خدا يه غواړی چه داسی ډېر آثار پښتنو ته وړاند ی کړی .

( عبد الرؤف « بينوا » )
د پښتو ټولنی عمومی مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چاته په مخکښې زدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په ګلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی                    دادب دخاوندانو ؛ دزړه وینی

« خادم »

بسم الله الرحمن الرحیم

داوې ښتن حمداوثنا وايو . او دده پهمقدسآستانهکې چهترټولو غوره دی ؛ او پهآل اولادنی، درودلېږو او ددې شکر کوو چهپه لنډه موده کښې مونږ دخپل ملت (پښتو اوښتو نولی ) په خدمت کښې « چه زمونږ دمشرانو او خصوصاً دګران ټولواك اعلیحضرت محمدظاهرشاه رضامند ی هم په دې کښې ده »
خومره چه کېدی شوه دهغې نه ډېر کامیاب شو، یعنی په کوم وخت کښېدپښتو خدمتګارانو زیات آثارولیکل؛ چه لنډ له دغوڅخه چاپ شوی دی ؛ اوډېر لاپاتې دی په فرصت کښې به چاپېږی او دذوق خاوندا نوته به وړاندی کېږی .

یوله دغو آثارو څخه چه دپښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیالیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب دډېرو پخوانو هغو شاعرانو دا شعا رو انتخاب دی ، چه نن یی آثار ډېر لږ کېږی ، دا اشعار او ددغو شعراؤ دیوانونه ماپه ډېر کوښښ پیدا کړیدی . اوپه ډېر زحمت سره می ترې دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چهپه خپل ډول اوترتیب کښې دنورو ژبو دیوې ، انتخا با توته هم نده ورته .

او داله دې کبله چه دپښتو شعراو ادب ځانته روح اوځانته لاری لری . مادغه روح او د غه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ اوهغسی مې د کتاب دترتیب نقشه جوړه کړېده . اوبیا می دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه دتهجی تورو یادر دیف او قافیې په لحا ظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع اومعنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی ، نوهر څو مره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا دادب اوشعر دنزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغو مره دژوند او ژند ګی داسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره دپخوانو کلاسیکی شعراؤ شعرپه شپږو بابونوویشل شویدی چهپه هرباب کښې فصلونه دی ؛ اوپه فصلونو کښې هم ځا نته ځانته عنوا نونه دی . او دهر عنوان لاندی د مختلفو شا عرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه دقدر دانانو په نزدپه زما دا خواری ځای و نیسی؛ اوپهدرنه سترګه به ورته وګوری !

کابل - تسند وز سازی ـ قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! — ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښې — ټوله ژوی په ځاری کښې
د لته د ی د غر و لمنې — زموږ کږدی دی پکښې پلنې
داو ګړی ډېر کړی خدایه !
لویه خدایه ، لو یه خدا یه !

دلته لږ زمو ږ اور بل دی — وړه کوږ ګی دی، وړه بورجل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو — د بل چا پـه مله تله نه یـو
هسک اوځمکه نغښته ستا ده — د مهر و و د ه له تا د ه
دا پیا لنه ستا ده خد ا یه !
لویه خدایه ، لو یه خدا یه !

« بیت بابا »

❀ ❀ ❀

پرلویو غروهم په دښتو کښې — په لوی سهار په نیموشپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې — یاد وېر ژ لیو په شپېلو کښې
ټول ستادیاد ناري سوري دی!
دستا د مینې نند ار ي دی !

جنډی زرغون که په بیدیا دی — د بېړ بڼ خواته په خند ا دی
ترناك چه خړدی په ژړا دی — دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکل دی ستا له لا سه
ای دپا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ یی سپین دی — یا دسپوږ مۍ تندی ورین دی
که غردی ښکلی پر تمین دی — لکه هنداره مخ یی سپین دی
ستا دښکلا د ا پلو شه ده
دا یی یو سپکه ننداره د ه

---

لغات : هسك آسمان . مېشته : ډېره . ځاری : عجز . جنډی : ګل . ترناك : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونېږی      دړوند وږمې پـکښې چلېږی
بوراو ې شا وخوا کړ ېږی      ستر گی لیدو ته یی هېښېږی
لویه خاو نده دا ټوله ته یی
تل دنړ ی په ښـکـلیده یی

خاونده! ښـکلی ستاجمال دی      ښـکاره یی لوریه لور کمال دی
کهورځ کهشپه کهپېږی کال دی      ستا دقدرت کـمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه ر ڼا ده
دلته چه جوړ ه تما شا ده

زړه مې داستا دمینې کوردی      سوی دعشق پهسوځندا وردی
رب یی وتاته یه هر لوردی      بیلهدې هېڅ دیورك یی پټوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نهوی دغه نور بر باد دی

پهغرو کښې ستادعشق شپېلکی دی      ددې نړ ی په عشق سمی دی
کهغېږ که ووړ کهپنده نری دی      ستا د جمال ځری هر شی دی
چهپر دنیامې ستر گی پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسك نه مځـکه وه تورتم ؤ      تیا ر ه خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ا بلیس نه نی آدم ؤ      ستا د جمال سو چه پر تم ؤ
چهشو ښـکاره ښـکلی دنیاشوه
دپنځ پر لوری یی ر ڼا شوه

زه چهخر گند پردې دنیاشوم      د ښـکلی مخ په تما شا شوم
ستا پرجمال باندی شیداشوم      له خپلی ستهی را جلا شو م
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

و گرېو ، ولې «متی» ژاړی      سورې یی اوری غاړې غاړی
خهغواړی،خهوایی، خهباړی      خپل تون او کورو کلی غواړی
چونهی چه بیل شی نیمه خواشی
تل یی دبڼ په لو ر ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هېښ : حیران ، تون : ځای ، چونهی : بلبل ، بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پرور بلبل دي عیش کاندی پر گلو
که مي نزموبي په ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مي نوی سر کوزی چاته بي‌ښکلیو
اضطرا ب د حرص مي کړي له زړه گی اري
که مي نه فاشوي سرزید و عمر ته
خو به گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه خپل برگ په آب د چرخ نکرم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتا ب ولی
چه کباب يي په گرمی ، زما ځیگرشی

چه بلبل يي و دیدن نه انتظار کا
که مي نه محتاجوي د صبا باد ته
سرخرو يي زما نصیب لکه لاله کړه

په اوبو کښي يي د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود يي مځکي سردی لگولی

الله مي رب دی زه يي مربوب یم
غرق په اوبو کښي کله اوبه وینی

د ده په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاده د منکر تر سره پر بوځی
چه کشور د افغانا نو معطر شی
الـهی ! د خپل حبیب له بر کته

په داور کښي دستی(۱) سمند رسازرا
پروانه لره په اور زما گداز را
می د عیش په میخانه کښي د مجاز را
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
له دولت د عشقه هسی کبرو ناز را
قنا عت قوی لنگر دد ي جهاز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښي د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشان را
د سحر پشان درست عمر سپین دامان را
دلاله غوندی په‌جام مئي‌جوشان را
کاظم خان «شیدا»

تن و ماوته گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسی داغ را
«شمس الدین کاکړ»

ده ور کړی پکښي اورلره مکان دی
هم يي زوړ ندپه‌ر کوع سره آسمان دی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب نا خوب یم
نعمت يي نه و ینم په نعمت ډوب یم
«عبدالقادر خټك»

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی
«خوشحال خټك»

د شبنم په څېر يي عمر بوزمان کړي !
د فلك په څېر مي توره د زبان کړی !
د هر بیت مصر ع مي زلفي د خوبانکړی !
دا : ساده انشار نگینه درحمان کړي !
«عبدالرحمن مهمند»

(۱) په اکثرو نسخو کښي د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خو موږ نږ يي په معنی نیوهیږو «خادم»

روهي گلونه(۵۲۵) ب سردار محمد : ح سراج الدین : ر محمد امین : ن محمد نعیم : ه اجرائیه پښتو ټولنه لیل ۱۸ : ـ۸ـ۲۰ـع

الهی د مینی دردرا ... کرم دل آهو نه سردرا
خلاص کړه ما له بې دردیه ... له دې هسې د لسر دیه
زړه په شان د غنچې را کړه ... آتشی زما مینا کړه
«کاظم خان شیدا»

پر هر ځا چه حق یاد نشی ناتمام دی ... پر کاغذ اول دده پنامه قلم ږده
«دوات لوانی»

## ب : داستاځي په مینه

که رڼا ده پیروی د محمد ده ... کنه نشته په جهان بله رڼا
«عبدالرحمن مهمند»

ړندي ستر ګي چه دزړه مي بري بیناشوي ... یم پیدین د محمد آخر زمان خوښ
«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکی تو له لدي جهانه لاړه ... نوردپاك رسول چه په جهان کښي شه پیدا
«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښي مذهب د حنیفه کړ ... چه مختارؤ خود په ستورو کښي مهتاب
«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته ... شوم لکه ذره هسي په نمر سره اظهار
«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی تو له له دي جهانه لاړه ... نوردپاك رسول چه په جهان کښي شو پیدا
«میانعیم متی زی»

په زرګونو انبیا تر دنیا تېر شو ... محمد غوندي بل نه ؤ پیغمبر هیڅ
«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسي یې ګرځم دا زیړ رخسار له خلقو ... لکه زرچه څوك له خلقو یې پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی ... کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر ګوره خپل صنم پوري شرمیږم ... برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی ... داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی
«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د سربندل دشوار په ما و تا دی
دا په عشق کښې سهل کار دي دشوار نه دی
اندېښنه سړی بېدار کاندي له خوبه
کم اندیشه که بیدار دی بیدار نه دی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کار دي د سروشو نهو شیرینی وی
د خیل ځان په وینو سو رلکه انار شه
د رحمان په عاشقی کښې ستر ګې وشوي
خوك چه وایی عاشق ږوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصیته منزه دی
کار دستر ګو به خوك څرنګ په دها نکا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کیښود
چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
د باران نه دی چه اوری له آسمانه
د مر غانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړ شی
چه دیار له داغه آه کا هغه ګرم دی
«خوشحال خټك»

زه تر عشق جار ښږم : تر هغو چه عاشقان دی
واړه عشق یکار دی حقیقت دی که مجاز دی
رایشی له کومه ځای په څوو کا په زړه کښې
هیڅ پری نه پوهیږم عشق یو څه سوز و ګداز دی
هی دخدای دیاره تفحص را پسی مکړه
پلار ته وا په نشي عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحال خټك »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا
فاسقان به په خپل زړه کښې اری غلا
« خوشحال خټك »

ځینی هوس کامینه په باغ لری
خوك می پسر ستـه حب دا یاغ لری
داد واړه ګرو هـه بوالهوسان دی
عاشقان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقادر خټك »

لیونی غوندی دعشق په کارو بار کښې
د خپل ځان په سود و زیان نه یم هر ګز
« عبدالحمید مهمند »

که هر څومې تند تېزه توسن دعقل
عاقبت شو پسه دنبال د مینی پا تـی
« میا نعیم متی زی »

دعشق یو سبق کافی دی
نور د درست جهان دفتر هیڅ
« صدر خان خټك »

عاشق ګرم او شوقی وی
زاهد سوړ بی حمیتـه
چه دعشق پـه لاره درو می
خالی نه دی لـه تهمتـه
« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې — چه تمام دعشق په اور وسو متین شو

«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو — عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شیدا شو — دعرب په مینه گوره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی — ودریاب ته ځی که سیل له هر چا پاځی

«مرزا حنان»

په هرداغ مې دخیل زړه هسې باوردی — چه په مرگ به راته شمع شي په گور کښې

«عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خیل ځان دعشق په توره — نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

«عبدالعظیم رانیزی»

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم — عشق را هسې گرم هم نرم هم لطیف

آئینې غو ندې هر ولی هر نا ولی — شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف

«شمس الدین کاکړ»

هر یو زړه چه شی پیدا غه بیکار نه دی — چه بی مهره شی بس ات هغه باطل دی

«مرزا حنان»

ته دعشق په لذتو نو خبرنه شوې — په سراب دځان مشغول کړ، له دریابه

هغه چاری چه دعشق په جذبه کیږی — کله کیږی په لښکرو په افواج

«خواجه محمد بنگښ»

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بي عشقه

بی رفیقه، بی پناه ځم، پناه نه لرم بی عشقه

هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپر دادو فریاد کړم

ځکړم چاو ته فریاد کړم، نیکخواه نه لرم بی عشقه

مدام غوښې د زړه خورمه، دزړه وینې به تل څښمه

ځکړم ځکړم چرته ځمه، همراه نه لرم بی عشقه

معتقد پدا خیل رزق یم، مبرا په زړه له فسق یم

واړه سرتر پا په عشق یم، پوگاه نه لرم بی عشقه

دافقیر دولت نفی یم، و گناه ته هوسی هم

خدای مې بیامرزه عاصی یم، گناه نه لرم بي عشقه

«دولت لوانی»

عشق دی دا که پوفساد دی نه پوهیږم — په جهان کښې چه دا شورو شر پیداشه

بیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی — په هر تن کښې چه د غه اثر پیدا شه

«عبدالرحمان مهمند»

باد شاهانو که قصرونه کړه آباد — ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسې یادېږي — لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسې پیر استاددی — چه به نه دی بل دا هسې پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقی دی — چه ځوك غوث کاندی، ځوك قطب ځوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

درحمان شراب له عشقه — نه انګور (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی — چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو کل ستر ګی په نم کښې — عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دایو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم — خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
دېننګ او د بلبل ترمینځ حیران یم — مخ دې اور دی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسې رنګ مقام بانډی قائم کړم — چه وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم
درحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه — خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم
« عبدالرحمان مهمند »

خودځر ګندوی لکه صبح په جهان کښې — هر ګړوان چه په یاری کښې دریده شی
بی مطلوبه یې هیڅ فهم په چا نه وی — هرطالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی — هر کلام چه له رحمانه شنیده شی
« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق — لامې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر ختك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه — بو هېد لی په تدبیر وم د د بیر کج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې — د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنان دی — لېز د عشق له لاری مه بیا په بهر کج
« عبدالحمید مهمند »

په هرځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه — مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی ناصحه ! — دا عبث دی پول د سحر په دریا ژدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی — په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی — د جمله ؤ مخلوقا تو پلا ر دی د ا
تـر عشق غوره بل څه کار به دنیانشته — ترهمه کارو نو غوره کار دی د ا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی — یاعاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوري سرومال په‌عاشقی کښې — عاشقی دا هسی کـله ده ویریا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو — نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بیدردان دعشق لـه درده خبر نه شول — براهیم ځکه منت بار د ا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا — یه اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی — وا قعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یی زه لـه بله غمه په امان کرم — دعشق غم دی کـه زما غمخور دی دا
چه‌می‌ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې — لیونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

یاد ښکلیو دیا ولیو شرنگها ر دی — یا د عشق د لیونیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په‌لاره گران‌دی — دلیه بویه چه پید ا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی ر هبر پیر کامل دی — عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زړه په‌عشق کښې‌نشته سرله سره — خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله یوسفزی »

چه اثر د مینې نه وی باندې شوی — هغه زړونه گویا کانی د بیدیا دی
« ملا جمعه »

• • • ◆◆◆ • • •

# غزلیات

که څوک یار په جهان غواړي یار دی دا    یار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خیال دز افویي زما له زړه چا پیر شو    که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی    د جملو ؤ مخلو قا تو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته    تر همه کارونو غوره کار دی دا
بل بلبل به د ګل نوم اخستی نه ؤ    که خبروی چه ګل نه دی خار دی دا
بیا را تله و دی جهان ته بل وار نشته    بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دي وګوری چه څه دی    که څوک شمار کاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره    ستا په عشق کښي همی خوار زاردی دا
« عبد الرحمن مهمند »

چه یې و لید و ستا حسن بیحساب    له دي قصد ه تاو پیدا شو د آفتاب
په آرزو یي دنرګس سترګی څلور شوي    غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب
ستاپه غم می دواړه سترګي سري ناغي شوي    که خیمی د ی سیاه پوښي سره طناب
که دي زلفي په مخ پیچ و تاب شوي ښایی    وبښته څه طاقت لري د اور له تاب
در حمان بخت به هله له خوبه ویښ شی    که سترګي ورته پورته کړي له خواب
« عبدالرحمن مهمند »

که ساقي تلخه باده دریای شور کا    د فلك به جام په مست کله مخمور کا
آرا سته وی تل محفل د خندهرویو    زمانه به د ګل جام څرنګه نسکور کا
چه په لاس کښي یی تل چوب لکه شانه وی    بی افسونه به نیول د تور منګور کا
د لتنګی کړم لکه ګل په خندا ور که    که می بل دصبا باد په خونه اور کا
چه په سریی سبز آسمان زری دستار ژدی    اعا قبت یی لکه شمع بیا سر تور کا
لکه ګل کړی ګران بار تر دا منځي    باد دي څه لکه غبار په کتف سور کا
« کاظم خان شیدا »

که ښکاره زما خاطر د لاله داغ کا    په ژړا به سترګي سري د ګلو باغ کا
د حباب غوندي مي دك په آه سرد کړ    څوك زما په ګور به بل څرنګ چراغ کا
افرو خته یي وی محفل په شان دشمع    چه سوخته دبل په کار کښي خپل دماغ کا
دګردش نوبت یی هیڅ په ما دا نشی    که ساقی د زمانې ؛ فلك ایاغ کا
زنګ که هر کله «شیدا» دتیغ جوهر خوری    دمګس په بال به څرنګ استفراغ کا
« کاظم خان شیدا »

چه می ولیده ابرو په مخ دیار کږ    له تعظیمه ور ته زه شوم په تلوار کږ
کږي ورو ځی کوږ با نه کږي یی زلفی    مناسب دی له کږو سره رفتار کږ
مار په دا سبب مدام کږ فتاری کا    چه یی ولیده دا ستا د زلفو مار کږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې ژړا خلې اتر له همنشینه
چه معمار ي اول خښته کږه کښېږدي
ژړبه وا چوی بار دار چار پای به خا کښ
هیڅ جواب د پیغام نه را ځی دیاره

خوږ ژوندون راپوري هسی کړ هجران تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد و دی
په وصلت کښې له رقیبه نه خلا صیږم
می حرام دی په مجلس کښ چه یار نه دی
چه می نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
که فرهاد ته شیرین غم د شیر ینی دی

چه می یار ولید په سینه د اغیار ګډ
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی
په امید د زلفو و نښتم په دام کښ
ددیدن په ګدا ئی کښې مې ننګی نه شی
د وفا د ګلو پیا نی پکښې نشته
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم

دا تور خط را اغی په مخ د ګلعذار
سپین رخسار یی په تور خط کښې هسی پټ شو
زما نه به بی سپین مخ دا هسی تور کا
هر کارساز نن په خپل کار کښی درمانده دی

او ښو د فراق دستر ګو خواب را خښه یووړ
رنګ په رنګ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه
نه مې را برسېره کړ ګوهر دعشق له بحره
تل چه یی هوش کاندی سره لاس وخونریزی ته
یوطرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو
وا چولم یار د جدائی په سره دیګ کښې
هیڅ یی نظرونه کړ زما و خاکساری ته
سینه خوله دیار چه په خواست زه شمس الدین غوا ړم

په سبب د کنږي پښي شی سم بازار کږ
بیا ترسره پوری ځی هغه دیوار کږ
که یی یو ځله خوك وشکوی مهار کږ
پسی زما شوه تورلیمه په انتظار کږ
« شمس الدین کاکړ »

لکه حال وی پر بند یا نورد زندان تریخ
پرسبزه باندي نا وخته وی باران تریخ
پرموسم د ګل اوقات شی دباغبان تریخ
بی له ګله وبلبل ته شی بوستان تریخ
لا تر او سه مې په هغه دی دهان تریخ
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« د مرزا حنان »

له غیرته می لیمه شوه په خو نبار ګډ
خدای دنه کا مینګیر کڅ په لاله زار ګډ
رو هیلی وم ساده دل په هندو یار ګډ
د رویز ګریم د بتا نو په با زار ګډ
کاشکی نه وی زه ددهر په ګلذار ګډ
چه په کلی په کوڅه شوم د خپل یار ګډ
« عبدالرحمن مهمند »

که غا لب شوه په کشمیر باندی کفار
لکه پټه چه معنی وی په اشعار
چه غرض اری د بل په کا رو بار
او به کله وډای شی ګرځ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »

کور زما دصبر دي سیلاب را خښه یووړ
زړه مې په یوه نفس احباب را خښه یووړ
زیات یی لاآرام لکه حباب را خښه یووړ
سري دهغو ستر ګو قصاب را خښه یووړ
عقل بی له میانه په شراب را خښه یووړ
روح یی زما دځان لکه ګلاب را خښه یووړ
زړه مې سیا چشمو په شتاب را خښه یووړ
خواست دهري ورځې دمخ آب را خښه یووړ
« شمس الدین کاکړ »

زما زړه ګوره چا یووړ      په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه د ی شوبه ی ارامه      چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم      زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر ګو      سیلا بو د ژړا یووړ
څه بازار چه مي د زړه ؤ      ... ستا حسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ      ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه به ئې نکړم      زړه بې پروا کړه شها یووړ
قراری دزړه مي نشته      بېقرار زلفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا      احمد غم دا شنا یووړ      «احمدشاه ابدالی»

... ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همیش      هسې په سینه کښې ګویا مار ساتم همیش
زلفی دي سنبل مخ د ګلاب ستر ګي نرګس دي      زه باندي باغبان یم دا ګلزار ساتم همیش
داله تلو سي نه چه پرقلب مي پرزو نه شی      ځکه په ځیګر کښې ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر پزی چه مجلس لره ور دروم      پس له دي به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس د رخسار چه دي زما په زړه کښې ګرزی      زه په خپل ځیګر کښې سورا نګار ساتم همیش
زړه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کا      زه په خپل وجود کښې دا بیمار ساتم همیش
ستر ګي مي خلور شی ستا پر خواچه وعده و کړي      زه حنان له غیرو دا ستا لار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط به مخ د صنم راغی که سپو ږمۍ شوه په هاله کښې      دا یی غابښ په خوله کښې زیب کاکه ژاله شوه په لاله کښې
هسې رنګ سحر و جادو کا په نظر د شهلا ستر ګو      نه یې سیال په هند کښې شته دی نه ثانی په بنګاله کښې
لکه ونښلی مرغی په سست دام د سلو لومو      هسې زه یم پر ښانو زلفو کښې یستم په کشاله کښې
دا زما له غمه شین زړه یکښې خیال د یار دلبر      هسي رنګ زیب و زینت کا لکه می په شنه پیاله کښې
ماویل عین ګټ ګل دی د غنچې په لمن لښتې      که مي کوټ یو ګل اندام و پروت په سبزه دوشاله کښې
شکلي مخ کا ولي ناسته ، په مجلس د رقیبانو      په جوار د سپو کښې نه وی هیڅ ارام په غزاله کښې
سر تر پایه تیغ د هجر لکه نی سوری سوری کړم      ځکه یم مدام دا هسې په فریادو په ناله کښې
که یار غوادي هومره ژاړه خو درځی عبدالحمیده!      دا یه دا چه درمونده شی په دریاب ئه په ناله کښې
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسې دیوا نه او مجنون چا کړم      له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهېږم چه داهسې چاري څوک کا      لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومي ستر ګي کوم بانړه کومه غمزه ده      دوب شهید غوندي په خاکه او په خون چا کړم
توان توفیق چه دفتنو را څخه نه ؤ      په فتنې د تورو ستر ګو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم      چه دا هسې رنګه زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند»

زه دیدار په دردوغم کښې ښاد مان یم      لکه ګل دیر پښانۍ په وخت خندان یم
نه زما و بیکسی ته نظر مه کړه      خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په میوه پوره      په ویرا نه ویرا نی کښې ابادان یم
پوره پښته مي د صورت بې عشقه نه دی      څوکیدار په هر نفس د خپل کاروان یم

دو وصال مارغه داو ښو دا نه را کړه   لکه لعل ودر په غاړه د خوبان يم
د کاملې عقيدې له برکته   دروهی په غاړه ناست شاه جهان يم
روښنائی مې په طلب کښې شوه حاصله   شپه اوورځ لکه آفتاب په لار روان يم
چه صفت د تو رو زلفو د اشنا کړم   بلی، سر په لو په لار د هندو ستان يم
بی مینه مې هیڅ حال د صورت نشته   لکه بې مال ومتاعه تش د کان يم
دهوس بلبل ويسا را با ندې نه کا   دافلاس په کبل بو تی د خزان يم
دلبرانو ته خاك تر تلی لا ندې   د دې نور جهان په سر لکه اسمان يم
چه ديار په ديدن سرو مال ښندمه   خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان يم

«عبدالرحمان مهمند»

زه ديار په درو غم کښې غرقاب خوښ يم   په داور کښې بیطاقته بیتاب خوښ يم
تر دا بوچی گفتگوی چه زه يې اورم   په نغمه په تر انه د رباب خوښ يم
چه ديار دخط وخال ښي پکښې وی   زونه سر په مطالعه د کتاب خوښ يم
د ريا تر نا قبو له عبا د ته   دساقی په میومست او خراب خوښ يم
چه نه علم نه تسبيح نه تلاوت وی   له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ يم
دطوبی دونی سوری مې خوښ نه دی   ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ يم
خاموشی که هر څو لو یه مرتبه ده   زه ديار سره په سوال وخوب خوښ يم
ديار دېرې غمخوری يم عاجز کړی   رحمان ځکه په خوردن دشراب خوښ يم

«عبدالرحمان مهمند»

څوك چه بد راسره کا ورسره ښه يم   هم په دا ښو دبد انو تو ز لېمه يم
له هغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی   په خپل خوی کښې سوړ اونرم تراوبه يم
چه وماته وزما عيب ويښکښ را ودی   ددی هسی يار له خدا يه په غوښته يم
نور زما دی، نار زما دنو رو څه دی   دې ننگو غوندې مخ خير دځان په سوه يم
په ابرو يې مخ سپېره شي چه نفاق کا   آينې غوندې مخ سپينه تور په زړه يم
چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری   په هجران کښې خوښ دستر گو په واته يم
له نور چا کله گله عبد القادر کړم   زه خوار کړی خپلو ستر گو يم خپل زړه يم

«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته ځير کتلی نه شم   ځکه يې دمدحې ترعهدې وتلی نه شم
زړه يې راغلبيل کړ دهجران په ناو کيو   راز پکښې ديار د محبت ساتلی نه شم
اوس مې په معنو کښې ښه مېن دستر گو کسی   کسی به د خلقو په ويل اېستلی نه شم

زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

د خپل یار له مینې هسې دېوانه یم
که یې آهه یې ناڅې بې زغه سوزم
دخال خیال یې ماضعیف لره کافي دی
چه یې خیال ساتم د سرولبو په زړه کښې

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مې قسم
زړه مې له نا وعدهٔ د وصل هر گز و نه لیده
پر وایه گل ویه خار نه کړم د جنون له فیضه
که مې سرولاړ شی ستا په مینه لا خوشحاله یم زه
تور بخت مې ونه لیده هیڅ ستا د کتا کل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

زه چه مین دیار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړې دعفتی ترمیان کړې تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا دخپل اشنا ور کړې
چه مې زړه وړی په منگوله هغه یاردی زما
که د وصال په هوا را شی یکشتنها دلبره

سپین رخساردې وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیگا تر منځ حیران یم
سپرېندې خوندې قی کړی کوامې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دو لته
چه میرا در سره نه وی قلندر ره!
قلندر په کومه بوزه لاړ شی صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ره!

مغنی گوتې په ځیر زدی په بم هم
ستا دعشق دغشی هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه رغېږی
تاچه مخ ورته ښکاره کړو لیونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
دخوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده

بی یې د زلفو در سی ختای نسه شم
زړه مې پر واز غواړی ولې الو تلی نه شم
«عبدالقادر ختك»

چه خبر نه په کعبه په بتخانه یم
پر څراغ دمخ یې هغه پروا نه یم
دمینې په دود قانع په لېږ دانه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

خوښ په لذت یم دخواری په اعتبار مې قسم
په ناامیدی دتورې شپې دانتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تېغ داستاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مینکو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړی په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

تماشه بې دیاره مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله نش دخواب خیالی افرار څه کوم
دا که مې تول دیار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نورحسن داره بې له ده دقندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بار گزی »

تور کاکل دې وای تورهشپه دتم
نه پوهېږم چه عمر و کړم په کم
دهجران لاس مې و کاږی زېروبم
اژ دهار را باندې گرزی دمبدم
تهچه صوات لره ورځې عذردی کم
چه میرا یې همراه نه وی هوس کم
دا یو ، لاړو ، السلام علیکم
« قلندر »

هم ساقی ښته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې ایښودای نشی مرهم هم
په ستا نوبه زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



به لذت دي دسروشرنلو کوثر هيڅ کړ
د يوه لاس نقاره دا سي آ واز کا
که ناستي ديار کوی به خاورو مو مي

د شبنم دا نه که تخم شی د ګلو
چه يی نشه لکه ګل ښه رخسارو نه
حال دسوی طالع څه بيان کړم چاته
معطل به ګا رضه د شام غريب دی
داسمان به شان يی تيز دفتنو تيغ کړ

بسرلی مي دخزان به تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر اونم
لامي غټو ر ته په ځير کتلی نه وو
لکه ډېر ېری پېکر هم پري رو وو
يوه ورځ به دا غنز و شی عاپخا نه

بی له ياره راښکاره ژو ندون د بون شو
چه دعشق په مکتب ما دغه داستان اوست
دقلم په دود به چا که سينه ټی کړم
دحسرت ګوتي به غاښ کړی طبيبانو

سور پېزوان د په سروشونډوهسی زېب کا
دسرو ټيك دشهزاده په جبين پروت دی
دواړه ليچي دي وښکلي مصری نوري
ستاله غمه به ځان زوه در حمان سوزی

پارسائی يی د پارسا له لاسه يووړه
چه مي کړي وه توبه له مي خواری
معجزه چه د احياده په دوه لب يی
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتي دا يوه مسلمانی وه
ماوي زه به دعشق رازلرم په زړه کښي
چه دزړه صبر ديار له سخه غوا ړم
که دنورو هوښياري په عشق کښي پس وړه

د حيات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټك »

زړه به سوړ به ديدن نشی د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبين دی د داغلو
که مي زړه به حلقه بند شو دکاکلو
صبح و شام ګرزی ښکاره په سرو منګلو
« کاظم خان شيدا »

ملا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هيڅ رنګك په بېر ته نه رازی وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز رو پری وار تېر شو
چه فلاني هم لکه ګردو غبار تېر شو
« عليخان خټك »

اشتياق مي د زړه مرګ و ته افزون شو
هك حيران را ته فرهاد دويم مجنون شو
دمرجان په طور ويني مي لړ ون شو
له قانون اوله شفی رنځ بېرون شو
« صمد »

لکه جيم په قلم ښکلي کاتبانو
شينکي خال دي محاصل په بند يوانو
در يوه بزم سر به پر ېکړي دخوارانو
لکه شمعه په زيارت د شهيدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائی ئی د دانا له لاسه يووړه
په چشمانو يی زما له لاسه يووړه
لاس په لاس دمسيحا له لاسه يووړه
دا دعوی يی دهرچا له لاسه يووړه
دا مي هم هغه ترسا له لاسه يووړه
دا خبره مي ژړا له لاسه يووړه
محبت مي دا دعا له لاسه يووړه
دخوشحال يی لا په خوا له لاسه يووړه
« خوشحال خټك »

ستا د زړه سختي مې سر تر پایه و لید نه
نو ره دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه
یار مې هغه وخت وي چه به شپه به سره ناست وو
ګل چه شګفته شي عندلیب باندې ناري کا
تل ګونه وهلی هر زمان ساده اهو نه
سري لمبې بې بلې دخوشحال خټك په زړه کړي

مست یم مې پرست یم رندي کړمه کړمه کړمه
نور شراب مې واړه تور عالم وته بخښلي
موړ به نه شم زه د مېو مستسقي یم
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
څه وایې وماته خیال دڅو به هجران کښې
خلق راته وایي رنګ دې بیازېړ شو عاشق شوې
دور دعاشق دادی چه به عشق کښې ملامت وي

توره چه تېر یسېږي خو ګذاره اره کنه !
ولې راته وایي چه په ښکلو نظر مکړه
شیخ دې نمونځ روژه کا زه به د کې پیالې اخلم
تا وې چه زما د خولې بوسه اخله دا روده
وینې مې دزړه خوري مګر نور څه لره نه دي
څه ژړا فریاد کړي دشپې د تورو زلفو
خو د به ستا دمخه د ګیاه غوندې څر کندشي
مې شته چنګ و نې شته دخپل یار سره خوشحاله ؟

اکه مخ زما د یار دی نمر خوهسې وی کنه !
دعالم دې بې خبري لور به اوز توري لښکر یې
بې دعشق له شور وشره چه هر ګز زما له سره
چه بې ریم عمل لا کا چه بې ورك کړې ځان پېد کا
تاوې دروه نوم مې زبر کړه بل سبق له زړه بدر کړه
وهغه ته مې سر کوزدي چه معلوم ورته رموز دي
چه آزاد مربې ور دروم مې خپل مراد ور ځنې مومې
په یوه زمان ته یار دور شې راشې خو ګذاره

سنګ به سینه دوړ کړي ستاله هسې سخته دله
وار په وار مې واړه په دلبر و و ښند له
شمعې به ژړا کړه صراحي به خند پد له
نشته یو ښکلي چه زړه ي و بو لم بد له
ما چه عاشقي کړه خود په ما به دا کېد له
سور خت یې اغوستی به دا لارې تېر بدله
«خوشحال خټك»

واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
لام و بې مې محادلې پسې مرمه مرمه مرمه !
تل که هسې د کې پیالې چښمه چښمه چښمه !
زه چه په دا هسې لارې تلمه تلمه تلمه !
نور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال خټك»

زلفې چه ول ول شي خو خپل یاره لره کنه !
سترګې چه پیدا دي خو دیدار لره کنه !
هر سری پیدا دی خپل خپل کار لره کنه !
غوا دم دا دارو د زړه پر هار لره کنه !
زړه زما پیدا دی تا خونخواره لره کنه !
نور تلې پخپله دي ښا مار لره کنه !
ګل دلاله را وړه خپل رخسار لره کنه !
خپل باض په لاس کښې ځه ګلزار لره کنه !
خوشحال خټك»

اکه زه په عشق کښې زبر یم زبر خوهسې وی کنه !
زړه مې نه خوځی له ځایه غر خوهسې وی کنه !
نه ځی نور څه هر څه درومي سر خوهسې وی کنه !
ورځ دشپه دا هسې کر کړم کر خوهسې وی کنه !
تل مې ته یې به خاطر کښې زبر خوهسې وی کنه !
په خبره نه پوهېږي خر خو هسې وې کنه !
په هیڅ ځای ته رلی ور خو هسې وی کنه !
دخوشحال خاطر تېز بردې پر خو هسې وی کنه !
« خوشحال خټك»

د وفا خبر پیدا ران دی بل خوا دروغ
مگر ځان وسپاري خدای ته په امان شي
هغه یار به زه د کومې خواته غواړم
دلبران که هر څو ډېر دي په جهان کښې
چه هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې
عشق عاشق لره یو هسې گلستان دی
که مجنون غوندې په عشق کښې څوک صادق شي
دا نایان به د رحمان په قال پوهېږي

ستا په مخ کښې چه حساب د جمال نشته
ته د سرود مال وېره په ما مکړه
روښنائي مې د چشمانو ستا دیدن دی
په جو پیار زما دستر گو سروته یې
مخ دې بې له خط و خاله هسې زیب کا
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی

گنج وعقل زار شه د عاشق د څاڅکي او ښکې
تیغ دیار له لاسه به مري د عاشقانو
خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
څه که زاهد زهد کا دیو جنت دپاره
گوره د منصور هسې به دار نه شي رحمانه

په گلونو اواز ورو کړه بلبله !
عقل وهوښ عزیز تر هر څه ښندل نه شي
خدای دې ه کاڅېرې چوخ به دې په ښوشي
ومطرب ته مینا وایې وایه وایه !
صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه

وینځه که اصیله وي که توره وي که سپینه
شهد که ځه نبات دی که شته شیریني نورې
خیال یې د زلفینو لکه مار وربا ندې پروت دی
سل زخمه که وخوري توی به یو څاڅکي پرې نو ځي
خوب به یې بدل په بیداري خوښي پرې ویر شي
یار په هوا دندی که د زړه مینه پیدا کړي !
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایې

دا متاع د زمانې په دکان نشته
گنه بل خواته د هیچا امان نشته
چه یې هیچېر یې منزل او مکان نشته
زما یار غوندې د نېر په جهان نشته
دغه هسې رنگ آفتاب په آسمان نشته
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته
دا ته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

که کله ما څخه د صبر مجال نشته
وېره ما څخه د سر او د مال نشته
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په دا نهر باندې بل څه نهال نشته
چه یې هیڅ حاجت په خط و په خال نشته
چه په زړه کښې یې نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

نه خر وار دعقل سه د عشق یوه دانه
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
سر ښندلی نه شي په ور بل د جانانه
مکړه دا د عشق خبرې مې ستا رندانه
«عبدالرحمن مهمند»

پر ښیا نه پېژنې ستا د شوره له غلغله
ته یو څه رنگه ډېر گران یې د مل جله !
قدم ورو ږده دراپیلو په گل گله !
دا معنائي پیدا کېږي له قلمقه !
څه قدرت لرې چه وایې اهل دله !
«عبدالقادر خټک»

کښېلي شي له حورو چه پرې ور شي د زړه مینه
مینه که نې گورې چه تر هر څه ده شیرینه
نه پرېږدی و زړه ته بله مینه چه ور ځینه
هسې رنگه وچه د صورت کا مینه وینه
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
مینه هسې څیز دی چه نه زده یې لري کوینه
خو دې لاو چاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټک»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له خپله اشنا نه لری گډه  له نور چا به په نور څه لری گله
انگوری ترخه شراب ور اره بویه  میخواران له گبینه لری گله
چه بی تا یې غروم د بـل و مخ ته  به دا خوی له ما نیمه اری گډه
هیڅ ایستادي یکښې ونکړتري پرېوت  له ناو که یی مي زړه اری گله
چه جارو مي ستا د در د خاورونکړه  ډیر زما له ما با نه اری گله
بد و بدو ته ښکاربږی ښه و ښه ته  ښه له بد و بد له ښه لری گله
ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ  بیا تري ولي یار له ده اری گله
«عبدالقادر ختک»

ننداره لره راځی چه یسی ځو نه  یه اختر به ځلمی جونه کا میلونه
ته به وایی مخ یې گل د پیغمبر شی  چه یې د په به مخ ووهی خالونه
چه په سیل د بهار د گلو گرځی  ځلمی گل به پگړی زدی په اوربل جونه
ځینی دواړه زلفي د کی کا له گلو  څوك به غاړه د گلونو کا هارونه
زیږ او سره نمری اغوستی گلرخانو  وا یی سیر و نبي د نیول گلونه
چه گلو نه آولوی سندري وایی  شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا  په هغه ځمکه چه کیږدی قدمونه
چه له سیله را روانه شي د کورته  گل لمن د بلبل یې نیسی آستینونه
چه له هسي ننداره نه ځان وباسي  شیخه ورك دي شه پیو خته خلوتونه
له لیدل د ښایسته و یکښې نه وی  چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدی که لیده د روح خوراك دی  نفساني دي باندې نکا غرضونه
تیر شو وار عبدالقادر ره! را به نشی  که زړا کړي که فریاد کړی که آهونه
«عبدالقادر ختک»

څه افسون دي په ما وکړ پریزاده  چه یودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مي ډك لکه سیند دی شعله بویه  که د زړه په فراد و کړم څوفریاده
بهانه ددي غرض مگر شانه کړي  ته یی لاس وروړي و زلفو ته شمشاده
چه اواز دي د تیشي په کهسار نشته  د شیریني په طلب لاړي فرهاده
په اسباب کښې مي زړه بند په اسباب ندی  د چمن په قید سرو ده آزاده
مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه  که څه رحم په بلبل کوي صیاده
چه په هر منزل کښې سرخوری لکه شمع  د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختی کله امساك د دولت کیږی  جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی  چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په اب دیاریم هیڅ حاجت دشراب نشته  اور دعشق مي زړه کباب کړو هیڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مي وچ لرگی شو، رگ مي تار دو باندې پروت  زیرو بم اواز تري خیژی هیڅ حاجت درباب نشته
پر پرهار نمکپاشی کړی چه پرسش کوی له ما نه  حال مې خود وزته معلوم دی، هیڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نیم بسمل یم تپش کړم په ځمکه باندې  ځان مي ور کړ ستا په عشق کښې هیڅ حاجت د قصاب نشته
«خوشحال شهید»

سحر دا آوازمی غوږ پوست له بلبله
ستا خندا به ژړا کښي پستلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډېر دی
ستا د ستر گو مستی بده ده ترمله

ښا یسته د زمانې د نیا پرست وی
په کوڅه کښي یې یل مه کښېږده بې پله

په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتېږی
څو دي زړه هومره چغلی کوه چغله !

ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خانده
زده کړه دا د صراحی له قلقله

د لیدونکو په نظر کښي تفاوت وی
او که نه وی خبرجدا نه وی له کله

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي
جمعیت مومی خاطر له تو کله !

چه ستا مخ ورته حاضروی گل به گوری
دغه ستر گی دي دخدای نکابی گله

د مجلس روښنائی ته یې ته دی استې
کوم نقصان دی که صبا کړه ډېره گله

دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره لـد ی پـلـه

«عبدالقادر ختك»

سرو که لیده شی د چمن تازه تازه
ستا حسن ترې ویشم ماه من تازه تازه

زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چندنو
یا دوا ده نافی دی دختن تازه تازه

گوره ستا له مینې زړه یې ټك دی ویښې وینې
رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه

سازدی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع
وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم دېوانه وم ، دېوانه یم لا تراوسه
له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه

له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم
ددلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه

زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیگانه وم
تر خلو ښتو کالو تېر شوم بیگانه یم لا تراوسه

چه عاشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم
تور و ښتهٔ مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه

چه داخل د یار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم
عام وخاص مې وائه ولی نښانه یم لا تراوسه

تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلا وم
عذر نلرم له حکمه ، بې بهانه یم لا تراوسه

د شیرین دلبر له لاسه ، ما شراب د عشق بې قیاسه
څو یې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه

دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
په ازل مې شراب څښلی دېوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست یم ستاله لاسه زړه یاره سینه افگا ره
ته له مانه څه غواړي فلکه ستمگاره

ته یو موش گیرك یې لایق نه یې د گلو نو
ولی بلبلان شړې کمبخته ! له گلزاره !

یار دي له ما بېل کړ تا خو هېڅ ښادی و نکړه
وایه څه دي وگټل رقیبه دل آزاره !

یو دي د هجران په تنا ره کښي لو غړن کړم
بل دي درقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو ګل بی خار شی په لمن زما څو خېژی
نه چې د وفا طمع کوي له سر و قد ه
غوځ وي قلندر په تیغ د هجر کړی نیا زه!

څوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پند ونه
زده مې که نادان په لاس کښېومات لکه ښیښه شو
او ښې دبا نو په سر چه را شی نه در ښېژی
نه شی څوك ساتلی سره ښځری په کر بوان کښې
نه دی چا موندلی ښاپېری په دو شا لو کښې

چه صبا یی په هر ګل بانـدي طواف کا
د ښتنګې په دود د ځان په سوور ضا یم
همیشه د ګل په بوی زه شمس الدین ځم
میل نـکا را ته باز د یار د ستر ګو

څونې له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
خلق را ته وا یی چه زحمت دې لاد وا دی
سر دی په جها نـکښې د همه وا ړو ښا دیـو
لوس بهاه دي وروسته دخپل یاره غم اخته شم
غیم د ي له از اه په نصیب د عا شقا نو
ما عبـدا لقا در چه دا غزل د فـر اق و وي

یو غوا ړم له یا ره ښه دید ن تـا زه تـا زه
ځکـه بـلبلا ن چغا ر کوی په تـا زه ګـلو
یـو ز مـان له مـد حې د د لبرو مـه د ر ښېژه
ز ړه چه در قیب ز ما په بد سره ښه کېږ ی
آه کوی لـه د لـه پـه فر یـا د له ز یر ګلـه
بل فـکر مې نه کېږ ی بی ستا له ګـفتـګو یـه
مـه کـړ ه پـه جفا سـره از ار د بـلـبلا نو
ستر ګی مې خیره شوی چه ولاړ یې زه دې ګورم
ز ړ ه د یو نس چو ی ستا د هجر لـه سختی

سیر د ګـلو نو چه کوم یې له خپل یاره
سروبه هیڅـا لید لې نه وی میوه داره
مه کوه میرا ! نوره جفا درب دیا ره !
« قلـندر »

واړه بیفائدی زدی ابا سینه لره بندونه
نه شی څوك ایښو دای وښیښوته پیوندونه
ندی چا بند کړی په ګـیا سره سیندونه
ومې سول یاه سره د صبر در مند ونـه
وا خله قلند ره ! پـه میرا پسې کـندونه
« قلندر »

زه هوس د هـغه بـا غ لرم لـه شو قـه
ځکـه مینـه پـر څراغ لـرم لـه شوقـه
په خپل یـار پسی سرا غ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدین کا کړ»

نه کړم په ګـل مینه دخزان لـه غـمه زه
لا ښه چه یې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دي شم پېغمـه د جانـا ن له غمـه زه
ډېر په زړه زهیر شوم دجهان له غمه زه
ځکـه تـه خلا صیږم یو زمان له غمه زه
رشك بـه کړم پـه اوښو دباران له غمه زه
« عبد القا در ختك »

بل در قیبا نو ځا نـکښـدن تـازه تـازه
نه به مدام ګـل وی نه چمن تـازه تـازه
تل دیـارله وصفه کړه سخن تـازه تـازه
مکړه پـه ازار زما د ښمن تـازه تـازه
وا وره لـه بـلبله ښـه ګفتن تـازه تـازه
شیر شکري وايه له دهن تـا زه تـازه
څـه خوبه وفـا کړه انجمن تـازه تـازه
وکړه په دا لوری آمدن تـازه تـازه
څه خوبه خپل‌مهر کړه غمجن تـازه تـازه
« یونس »

ښه مې و لیدل په سترګو واړه ښکلي
چه تر واړو لا ټېرې کا جمال ستادی

د دنیا په مخ به ډېر وی ښه مخو نه
چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستادی

د واړه زلفې د حلقه کړي اکه لو می
چه دانه دی په دالومه کښې خال ستادی

دواړه ښې ګلګونې سرې په دماغ درو مې
ګوره بیا څو مره وګړی پا یمال ستادی

ته کشتن د غمزی کړه مه و د ر ښزه
مقتولا نو قبول کړی و بال ستادی

که همه دخلقو ښکلې سره ټول شی
خسته زړه مې په ټولی کښې لېوال ستادی

چه دې څوك په کو څه تېر شی نور مین شی
چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستادی

که مثال د صورت غواړې ګوره میا شت ته
چه پوره د دوه هفتو شی مثال ستادی

چه صبا بیګا یې لو ند لرم په او ښو
یادګاری را څخه پاتې رومال ستادی

څو ر یبار در سره نه بیا یې دو ړ اندي
چه په چم به یې تېرېږی محال ستادی

که په قهر یې شړې په لطف یې بولي
چه یې نه پرېږدې په هیڅ کښې خوشحال ستادی

« خوشحال ختك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی
قدې سرو صنوبر دری واړه یو دی

حاجت نه لرم په شهد و په شکر و
لب د یار شهد و شکر دری واړه یو دی

که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم
نارو خارو دا بستر دری واړه یو دی

چه و د راو و د پو ار ته یې نظر کړم
باغ بوستان اودغه در دری واړه یو دی

چه غبار یې د کو څې را ندې را شی
دا غبار مشك وعنبر دری واړه یو دی

خدای دیار له هجره هیڅوك خبر مکړه
تاخت وقتل و دا خبر دری واړه یو دی

هغه دم چه سړی د روم ی له جهانه
تورې خاورې سیم وزر دری واړه یو دی

قلندر که په رښتیا قلندری کا
خان سلطان او قلندر دری واړه یو دی

په دکان د نابینا ؤ جوهریا نو
خرمهرې لعل و ګوهر دری واړه یو دی

دا پیران دې عار زما له عشقه نکا
پاك عاشق پیرو پدر دری واړه یو دی

په سبب د ظالمانو حاکما نو
ګور او کور وپښور دری واړه یو دی

غزاوشوه که خان ستانی ور حمان ته
بې هنرو ګاو خر دری واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند»

تور ګیسو د به چند ني پا ندي ښامار دی
تورې زلفې دی سنبل دنو بهار دی

تورې سترګې دې هوسئی دی خطا شوی
چه و څرو ته پرتې په سنبل زار دی

تورې ورځې دې لیندې پا نه دې غشی
عاشقان یې زخمی شوی په ګذار دی

مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره
بیدلان یې په سرونو خریدار دی

د غه خال چه دې دو رو څو په پیوند دی
دخطا دملك اصلی نافې ترې جار دی

سپینه پوزه دې غوټې د زنبق ده
چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی

ښنا ګوښ د نسترن دی غوړ پدلی
د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی

سپینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم
د غنچې غوټې کله شکر بار دی

دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو
سپین غا ښونه بې بها در شهوار دی

ښایسته زنه د سیب د سمرقند دی
چه خواږه یی تر نباتو نه بسیار دی
صراحی د سپینو ررو سپینه غاړه
سیم اسا اوږې دې هم په دغه شمار دی
واړه تن دې د حلب تر ښیښی صاف دی
چه را زونه دد رون تری نمودار دی
سپینی لېچې دې ښکلی مصری تورې
چه خو تونه یی په غاړه سل هزار دی
د یاقوتو نیګنی دې سره نوکونه
ځای په ځای دې په اوږو باندې قرار دی
چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه
هغه کلک په لذت ډك خوازه انار دی
د نامه غوټی دې ګل ده د ګلابو
کېنږ اوښی د ګلو پاڼې پرې انبار دی
د نامه نښکته د م و هلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پنډیو تر صفت دې نه ز سپېنږم
ولې سپینې په سپینو الی تر چمتار دی
سپینې پښې دې د زنبق د ګلو پاڼې
دېښو ګوتې دې ګلونه د انار دی
تمام قد دې په مثال د صنوبر ونه
در پېده یی سم په مثل د چینار دی
سر تر پایه ننداره یی ځان دې جوړ کړ
ترتا جار واړه را نمی د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کېږي را ښکاره شو
د لو بیا دا نه یوه متر خروار دی
نه خوړ پر مهر کوی عمر دې ډېر ښه
دخوشحال ختك دې تش لیدل په کار دی

« خوشحال خټك »

عاشقی را باندې سوری کړې مری
هیڅ مې نه د رومی بې باره تر مری
ځه اثر به یی د عقل وی په سر کېږې
د هغو په سر چه کېږي ښا ییری
د مژګانو په پنجه مې زړه وکاږی
خدای دنر کو مستې ستر ګې کړې مرزی
علوفه به یی بې غمه نور ځه نه وی
هر چه کاندې دخو بانو چاکری
لېږ د صبر سبق ما لره هم را کړی
که په عشق کېږي څوك دغه طاقت لری
خدایه څه دې د کو ټوال په لاس کېږي ور کړم
شپه او ورځ مې غږ وی لکه تو ری
په صورت مې نری تبه شوه و لاړه
تاچه دواړه ستر ګې تو ري کړې نری
د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم
چه بند ی شوم د هجران په کچری
نور د شمعی په فانوس کله پټېږی
تاچه وا غو ستې دخیال جامی نری
زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو
چه یی ملاوې د و پښته په دو د نری

« عبدا لرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی
بیابه تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه زړه سوی یی د حرم په صید هم نشی
دا بېد رده بیصر فې ګز ار دچا دی
ما خو نه دی څوك پېو جهی از ار کړی
دا چه ما از ار وی از ار د چا دی
چه یی درست جهان د مخ په رڼا ز یست کا
دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچادی
چه بلبل یی رسپدی تر ګلو نه شی
دا د ننه په حرم ګلزار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کېږي نه لری رحمانه
دا نا ترس اوبی پروا ګزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یی سر خم دی
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که دې مخ په زلفو پټ دی باك یی نشته
د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی
په دهن کېږي دې غاښو نه تجلی کا
یا غوټی چه په غنچه کېږي د شبنم دی

نه چه اوس زما زړه غوڅ ستا په غمزو دی　　چاره، غوڅېږي له قدیم سره په غم دی
بې ژړا چا ته نه ګوري سیاچشمه　　د نرګسو غوړېده د جوی په نم دی
راحت ندی چا موندلی بې زحمته　　ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف له برکته　　د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! عارولي له ما کړې　　چارې د قسمت دي، زه یې زشت ته یې زیبا کړې
یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه!　　ای د صبا باده! چه بیا غنچې غنچې واکړې
ګل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه　　سرې دې له فراقه لاله سترګې ژړا کړې
ولې له شیدا بلبلې مخ جار باسې ګله!　　ته په دا خوبی هم دده ناروسوا کړې
لاخوشبویي ورکا چه یې واچوی وورته　　زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته د حسن نمر یې دانور ښکلې لکه ستوري　　ګل به کالعدم شي که ښکاره خپله لقا کړې

«عبدالقادر خټک»

خوښ یم تر ابده د ساقي له میخانې　　خورم شراب د مینې د کې د کې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتې نه شو به ګلزار کښې　　جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو سترګو د ر راوښو واړل په خاورو　　نه یې وساتلې په پښه کښې د ر دانې
هر ساعت چه ډمه کا سنګار د یار د زلفو　　وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو　　ور کې شه بیخایه د پښتون د پرې ستانې
تل مې لیوني عوندي څوك نه پرهېزدي و کورته　　ځای رالره نشته یې د یار له استانې
هرچه په ازل وي هغه دي زما په برخه　　څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مر ګك د شمس الدین چه د دلبرد یاده نه ځي　　شپه ورځ بې تړلی دی په ګوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی　　د زړه رخت مې په عشق رنګك لیدلی دی
اوس له وېرې په کوڅه ورتللی نه شم　　ما د مستو سترګو جنګك اېسدلی دی
غم و ښکلې توري راغی که مې پرهېزدی　　ما خلاصی د ستا ترخنګك لیدلی دی
ما بېګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه　　دا خپل ځان مې پرې پتنګك لیدلی دی
د امطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی　　چه خپل حال یې د ېر بدرنګك لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګك لري کوی　　تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګك لري کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم　　ګله سپی غماز له یاره څنګك لري کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننګك دی　　ځکه هر ملنګك له ځانه ننګك لري کوی
خدای په دواړو کونو هغه ړوند په نور لیمه کړه　　څوك چه ستا له شمعی ما پتنګك لري کوی
یار مې په شړل ندی راضی زه یې پرې بوهېږم　　سپی غماز له دره ما په جنګك لري کوی
بس کړه ای ناصحه! تور ځیګر را باندې مه خوره　　ګله مست بنګی له ځانه بنګك لري کوی
بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه　　عشق بوهسې رنګك دی چه بل رنګك لري کوی

«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
گوره دا په ځان خونی تورمار لره وردرومی

مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب را درومه
چېری هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومی

ځم د یار په لوری په هواهوس خوښی کړم
ذوق کاندې بلبلې چه گلذار لره وردرومی

هر څوك چه طلب کا پته نه ده دا خبره
هر کله مطلوب و طلبگار لره ورد رومی

«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې نه ی څه دی
ښکلی غاښ دې مرغلرې نه ی څه دی

چه تسخیر په تورو سترگو کا د زړونو
سیه چشمې سحر گرې نه ی څه دی

چه د زلفو په زنځیر یې زړه بند کړل
هو سی سترگې زو روري نه ی څه دی

چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
ښښتنې په قامت سترې نه ی څه دی

وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه
ستا د مخ په دور لرې نه ی څه دی

«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ېږی
سترگې د ښو په درانه بارنه زهیر ېږی

څو کبر لو یې ده و خوبانو خدای ور کړی
هیچېری بی زړه په عاشق خوارنه زهیر ېږی

څه شو که ترې سلسله ځار ېږی په ساعت کښې
گل د بلبلانو په چغار نه زهیر ېږی

ښه رنگ یې بدرنگ کا چه پری واوزی پوخته
زړه د خزان گوره په بهار نه زهیر ېږی

گرانې دی هر گوره نوې چارې نو آموزته
هرچه مدام می خوری په خمار نه زهیر ېږی

زردی چه خبر په شی د سترو له احواله
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ېږی

سرغواړه له خدایه خولی ډېری دی فاضله
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ېږی

«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی
سجود که روښن کړم که داعیب دی هم وی دی

عالم وایی عاشق شوې زه سوگند خورمه چه کله
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی

کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی

که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کېږدی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی

چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیاخبرو
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی

شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی

که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې
مستی یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی

«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې

اندرون گو گل می درست دو ینو ډك شو
ظاهری جامې اغو ستې سپینې سپینې

بیا دې نوی پرهار و نه په ما روغ کړه
لرغونی می لا روغ نه دی ځینې ځینې

په ژوندون یې څه احسان را سره نکړه
څه پکار دی که یې کړی په مړینې مړینې

زه دې درست له باغه وا پستم د لبره
تورزاغان پکښې میوی خوری خوړینې خوړینې

تو رو زلفو دې خو شبو په کړه ملکو نه
د واړه گلو ښتی دی دمښکو چینې چینې

خماری سترگې دې د واړه ښنه زمری دی
د خوا جه محمد و مرگ ته وډینې وډینې

خوا جه محمد بنگښ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به څوك بې نا چاري وطن پر ښږ دی
كه ستا مخ يوزلي و وينې په سترګو
د يوسف غوندې به څو ځني بيرون كا
كه دې وليدى سرې شونډې جوهر يا نو
كه د لبر په دا ښايست لاړ شي چمن ته

نه به روح هر ګز په خو ښه بدن پر ښږ دی
بت پرست به نور سجود دو شن پر ښږ دی
كه د زنې چا تـه زلفې رسن پر ښږ دی
په ياقوت پسې به تلـه د يمن پر ښږ دی
د خولئې دعوى به ګل دچمن پر ښږ دی
« كامګار »

چه يوه ګړۍ په جمع زړه ښه مخ وته و ګورې !
داخوی زما قديم دی څه ما اوس نه دی راوړی
د خلقو تهمت يوسر دجهان غم نـه بـل سـر
دا اور چه په ما بل دی دخپل يار له جدائی
اشنا ته وايه نشي نا اشنا به څه خبر ښږی
ناوك يې دمژګانو دابرو په كمال جوړ كړ

كه درسته دنيا ستا شي هم څه نده دا تر پورې
چه بې دزيبا مخه رانه خس دی چار ې نورې
هم ته به مې له هسې رنګه سختې بلا ژغورې !
نه ګرم نه ملامت يم كه تل وينې ژاړم تورې
دا راز چه له ما نه دی او ريدلی خپلې مورې
خدای زده چه به دچا ترزړګی وزی پورې وورې

ښه باز دې دخوشحال خټك خاطر په لا سو كبوت
په قد ری خبر شه چېر ې نه په لـښرى پـلـو رې !
« خوشحال خټك »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبين زدې
د عشق اور مې و يلوی د زړګی شمع
مادې خيال اره فرش كړی تور لېمه دی
په شپه حال د مهجورانو په ياد راوړه

دا زما پر زړه دا غونه آ تشين زدې
بيهوده مې پر موم نقش دنګين زدې
ته بې نيا زه قدم ولې پر زمين ږدې
په راحت چه سر له نازه پر بالين ږدې
« پير محمد كاكړ »

❀ ❀ ❀

## ه: موضوع ګانې

### (۱) ـ مخ:

بادېى لاس په پلو كښېږدی سره ريښږ دی

ګل بې مخ وته نظر كا خوله پريښږ دی
« خوشحال خټك »

د پريې ښکلی جوړه ماليدلی دی په سترګو
زور دغاښو مکړه مخ يې صاف تر آئينې دی
عمر به يې لنږ شی كه ئې تاردزلفو كم شی

روند شم كه به تا غوندې په حسن ښله وه
زخم به پرې وشی په ورو ورويې ښكلوه
فهم كړه اى دمى ! زمنځ ورو وروڅلوه
« عبدالقادر خټك »

اى چه په مخ و ړ ې خو ئې لـه ور ده
ته بې آ سيـبـه بـهـى ، سيـب او سـى

خـالى يـو د م نـه يـم د ستا لـه در ده
كه تـر نـا ر نـج مـې خپـر ده زر ده
« عبدالقادر خټك »

كه مخ دې نمر كړم دنمر كړه وړه نشته

كه يې سنبل كړم سنبل مشكين نه دى
«عبدالقادر خټك»

د پر هوس لرم د ا ستا د مخ و ګل تـه

زه بلبل پـرې الوته كړم كه بد نه وړ ې
«شمس الدين كاكړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو | تورې زلفې غلافونه د اطلس<br>«میا نعیم متی زی» |
| دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ<br>چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو<br>له حیا دې غټو مخ ته کتی نشم | که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ<br>پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ<br>کله لید په خوږو سترگو شی د نمر مخ<br>« قلندر » |
| دا دې یار خو دی، خوله نیولی<br>دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه | که لاله گل دی پر خپې وهلی<br>که لعل و در دی سره پېیلی<br>«خوشحال خټک» |
| ډېر مې ستا و مخ ته و کاته موړ نشوم | نور به څو پردې نابوده دنیا ویا ډم<br>«شمس الدین کاکړ» |
| لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه ! | په درست باغ کښې یو نسرین هسې نري !<br>«خوشحال خټک» |
| مخ وته یې، گوره چه په مخ لری خال و نه | څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر<br>«خوشحال خټک» |

## (۲)شونډې اوزنه:

| | |
|---|---|
| د خولې ویل دې وا ړه نبات دی<br>څوک یې چه ښکل کا سخ د هغو دی | خوا ږه دې لا د کنځلو زبات دی<br>شونډې دې دواړه آب حیات دی<br>«خوشحال خټک» |
| بوی به ستا د محبت ځنې روان شی<br>په ناز کو شونډو بار د پانو مه ږده | که پاره مې د نافې په دود تېتر کړې<br>خدای چه شونډې سرې بې پانو درته در کړې<br>«عبدالقادر خټک» |
| غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده | څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه<br>«پیر محمد کاکړ» |
| په سرو شونډو کښې یې روز دی هم اوبه دی | دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله<br>«دالپوری حافظ» |
| که څوک و وینې د استاذ نخ پر آب | زړه یې و وزی د سینې لکه حباب<br>«عبدالله پوپلزی» |
| چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم | په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا<br>«میانعیم متی زی» |
| هغه شونډې چه ځائې د پانو سرې دی | هغه شونډې څه حاجت لری و پان ته<br>«خوشحال خټک» |
| چه په خیال د سرو لبو د شپې ځملم | هر سحر شا ځې ځما تر بستر وینې<br>«عبدالله پوپلزی» |

## (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
څوک مایوس څوک په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر ګرم

ګویا اخلی د یا غیانو قلنګو نه
څوک پراته غاړه غړئی په پالنګو نه
د غرځه غوندې په هسې ګړ سګو نه
«خوشحال خټک»

چه د یدن دمین و کړمه تا زه شم
په ارمان د هغه وخت یم د ریغه د ریغه

لکه کښت چه په باران سره اوبه شی
که د زنې سبب یې بیا زما په خوله شی
«خوشحال خټک»

څوک چه زور مه ښکاره کا وزیا تیږی

که پخپله بوسه را کا زور به نشی
«خوشحال خټک»

مګر تا سره سامان د سلطنت دی

چه په هود مې سپینه خوله غواړې خټکه
«خوشحال خټک»

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

نور مې ګل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټک»

سر به در کړم مچه را کړه ښه سودا ده

که یې ته په بها پېرې زه یې پلورم
«خوشحال خټک»

په رښتیا رماته وواېه طبیبه!
سپینه خوله که بې ریباره وز پېشکش کړم

چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټک»

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسې ته مرې

اوس یې په وصال کښې دواړه اوریه ښکلوه
«خوشحال خټک»

دصبا باده! ګزر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به ډار کړم

په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه وا کړه
په شکار ناري وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال خټک»

زړه مې تخمخ کېږی دسپین مخ وښکلول ته
زه چه غښتني سوال دبوسې و کړم راته خاندی

لاس یې لر بر کېږی دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوین ته
«مطیع الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحاله

په صله مې سپینه خوله درته ښخښلې!
«خوشحال خټک»

دبوسې وعده دایم صبا برات کا

زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خوبانو

قسمونه مې ناصح ګڼل عبث
«میا نعیم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

په خوزویی د حلوا نشته غرض
« یونس »

که هزار لحله شیخی کوی خوشحاله

که ښه ښکلې درنژدې شی نو یې ښکل کړه
«خوشحال خټک»

## ٤ ـ ستر گی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر گي
هسی بري غو ځېږم وایی توري لری ستر گي
یارمي په ښایست کښې بی نظیره بی ماندی
لا په درست صورت کښې د پرمشهوری اری ستر گي
ناست دی لـکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته
ځکه ستاله مخه هوري دوري اري ستر گي
هرچیرته چه ته یی هغه اورته می نظر دی
هرچرته چه زانی شاهین هوري اري ستر گي
« خوشحال خټك »

ما یی خیال لره ابلق د ستر گو زین کړ
قدم تېز دی په رکاب زما د ستر گو
« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی می د ښو کړه تري چاپیره
گوندي خیال دیار په ستر گو کښې حصار کړم
« عبدالقادر خټك »

ځکه ما دعشق په تېر ځان شهید کړ
چه مي نه رسی د صبر په کفن لاس
مر گئ دژوند زما پوښته له مړاوْ ستر گو
په رسا گذار یو هیښې د تور زن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کښې ورو ځی کوز بانه چه دي را یاد شی
کـابزه غشی مي تر زړه لوینږی آزاد
« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېري ستا
پري به غوځ شی هرچه کاندي ننداري
« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر گو دمږ گانو په پنجو کښې
دی لـکه تنزری په چنگ و ړی زما روح
« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو ستر گو په تعریف کښې
نـده کـمه شاعری لـه اجتهاده
« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري ستر گې خدای خونی کړي
گـڼه خون کـله کـولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر گو فتوی در کړه چه مي وژني
حیرانی ده پر دا لو ستو د مکـتب ستا
وکوتر ته حاجت نـه لری د ښېلو
چه جام نوش کـا څوك دمیو لبالب ستا
« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سینی پر خبر نه یم
دا د ستر گو باز مي بیا راځی وښکـار نه
« مرزا حنان »

یل یی په جهان کښې مـو ندی نشی
عـاشق تـله دیار په لوری په لیمه کـا
« عبدالقـادر خټك »

بی دیار له مړاوو ستر گو چه کج گوری
گـڼه نـکـا رنځورا چـاته جواب سخت
څوك د صبر ارام نـه غواړی په عشق
د ازل کـاتب دی ښکـلی په دی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کـا
« پیر محمد کـاکړ »

روهي گلونه (۵۲۵) ب سردار محمد ، ج سراج الدين ، ر فتح محمد ، ن محمد نعيم ، ه اجرائيه پښتو ټولنه ۱۰-۱۱ - ۵۲۵ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵ـ غاښ

په آرزو دسپینی خولې یې په بوستان کښې
نرګس پیاس پر سر نیولی دی پیاله
چه یې وليد . خندا د سپينو غا ښو
له شبنمه لمن د ښکه کړ . لاله
« شمس الدین کاکړ »

په رنړا د سپینو غاښو یې خرم وم
وا قف نشوم د هجران د شب له دا چه
« پیر محمد کاکړ »

## ٦ـ غوز اوپوزه :

در په غوز کښې د مهرو هسې زیب کا
لکه بر ښنی په سحار کښې ستار ه
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زا نګی په غوز کښې
کو اکب کا په اسمان لر زان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوز وتې مقصو د مو می لښتې ده
چه له پوزې یې مراد مومی لونګ دی
« خوشحال ختك »

سپينه پو ز ه دی غوټۍ د زنبق ده
چه چاپیر تری نور ګلونه د ګلذار دی
« خوشحال ختك »

## ۷ـ خال :

مخ وته یې ګوره چه په مخ لری خالونه
څه عجب زیبا دی لکه ګل د پیغمبر
« خوشحال ختك »

زه حیران د استاد ورځو په نور خال یم
ګل دې پری باریکړی په شبنم خور شی
کافر څه رنګ سجده کاندې په محراب کښې
نازك زړونه بد وې په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دې په سرولبو هسې زیب کا
لکه مهر په مخ ن د د ر مرجا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شنې کا
زړه مې شین شو ستا دشنه خال له لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبری یکښې نه وی
د عشا قو یکبار دا ترانه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ز دي
دا زما په زړه دا غونه آ تشین ز دي
« پیر محمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یانو
هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مې ځکه په سل ژبو ګفتګوی کړی
چه شانه وهی په زلفو د نګار لاس
« عبدالله پوپلزی »

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم
خدای دې نه کا حال کما ن کفار د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې
زرعو نه کړه تر سنبل او سره ګلاب
« میا نعیم متی زی »

زانګی یکښې زړه نه د عاشقو سره په ویښتو
نه چه چیری کینږدی سره ګلونه په اور بل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو ګوره
چه په څه ښائي تاویږی وایمان نه
« خوشحال ختك »

که خوك وایی چه مار کله په کټ خیږی
زه خوږ لیم په کټ د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پری نه یې نږدم
که د تورو زلفو تار په لاس را کښیوت
« مرزا حنان »

تورې زلفې دې په لیچو باندې زانګی
ښامار ان دی دچندنو په ښاخو نه
« خوشحال ختك »

دار بل په هر پهر تار یې زړونه بند دی
مشاط ور باندی نور پسی په تارو
« خوشحال ختك »

که دد یدن حج اکبر کوی تلوار راوکه
چه پر سپین مخ باندې د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخند زاده »

## ۸- زلفې:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی
په زړه خو له لګوی مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بې خنمو وهم مین دی
بېرو دمه د وزنه کښینو د دام په څه
« عبدالرحمان مهمند »

د ک مې د نشه لړمون په اور شو
ز ړه سمند ر دی پکښې یې کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنګ دی
له بخته خو ښ یم چه بخت مې تور شو
« عبدالقادر ختك »

په لیده یې پیچ وتاب شم نه پوهیږم
څه بلاده دشوخ چشمو په کاکل کښې
تر حلقو د زلفو مخ نی معلو میږی
که ګلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
« مرزا حنان »

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دی ګلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دیه څو د یې کله زلفې په مخ زانګی
واړه زهر دی چه څوزی په تور مار کښې
« پیر محمد کاکړ »

خيال دې زلفو يې دزړه نه جدا کېږي — دې کېږي پورې پټ کېږي شي تور حجاب
«عبد الله يو پلزي»

## ۹ـ خندا:

په بار بار د خندا منت را باندې — چه په ما دې نظر وشو په خندا شوې
«خوشحال خټك»

کله کله په خپل قهر ارکېږي مسېږي — لکه خوک په هندو بار کېږي ديندارۍ کا
«شمس الدين کاکړ»

تبسم يې له دشنامه سره زيب کا — قدر زياتې لري ترخه چه شي شراب
«مرزا حنان»

## ۱۰ـ لاس:

د احمد د قاتل لاس دې نه يو هيېزم — که تر باغ وتلې لاس دې د سرو گلو
«عبد الرحمان مهمند»

کوم دلبرې زړه په سرو منگولو وړې — چه لسرمو ن د وينو د کړې دې د حنا
«شمس الدين کاکړ»

سره نوکان دې دسر و گلو په څېر زيب کا — د واړه لاس چه دې رنگ کړی په حنا
«پير محمد کاکړ»

## ۱۱ـحسن:

ته په دا حسن د گل غوندې پيدا يې — پوري مور که بيا پيرني يې راوړي
«خوشحال خټك»

زه رحمان د هغه حسن تنا خوان يم — چه جر گه دعا شقانو وي پر پنده
«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له گرمه خو په — لکه گل په نمن يت تازه شبنم ودم
«شمس الدين کاکړ»

يوېکښې مخې د قند هار د کښلو نشته — کښلې د کشمير که دلا هو رو د کابل
زره دشمس الدين په حساب سره درې ځای کړ — يو طرف دې ټيك شو بل دې نته يل چار گل
«شمس الدين کاکړ»

خو برونې يې دلبرنې څه په کار نده — لکه ونه بې ميوې په بيا نو پوره
«عبدالرحمان مهمند»

توري زلفې نشته خالونه سره رخسار — ښځه طوطيان دې سره گلونو تور ښامار
«يونس»

## ۱۲ـ جامه او گانهٔ:

ارغواني جامې يې واغوستې رحمانه — بيايې جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
«عبدالرحمان مهمند»

دعقيق د آب په رنگ يې تن معلوم دی — هره ورخ چه جامه واغوندې گلنار
«مرزا حنان»

نور دشمنې په فانوس کښله پټېږي — تا چه واغوستې دخيال جامې سورې
«عبدالرحمن مهمند»

درسته‌دي له‌خيل غريبو وا بستم خوشاله  يودغادي هارمي د گلونو مه‌شلوه

« خوشحال ختك »

## وښې

داهلال دی چه‌ليدل‌شی په‌شفق کښې  که‌په‌لاس د گل‌اندامی سپين‌وښی دی

« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۳- عيش، اودعشرت‌سامان:

دنيادار کره چه نه‌وی ښې دلبرې  اوردې يورې ددنيا په‌ملك ومال‌شی

ارمان دادې چه به زه هميشه نه‌وم  هميشه به‌سره گلونه کال په کال‌شی

د گلونو وخت‌تيريږی ساقی! گرم‌بی  که دجام په د کولو دې اهمال شی

« خوشحال ختك »

❀ ❀ ❀

ساقی! پورته شه‌دميو جام تيار کړه  عمرهيچ معطلی نه کوی تلوار کړه

که‌غمخوار غواړې په‌غم اوپه‌اندوه کښې  ښيښه د که د شرابو اختيار کړه

هغه‌خوك دی‌چه‌تهمت پرې وايه‌نه‌شی  غوزيه‌هيڅ‌بانديمه‌باسه‌خيل کار کړه

« عبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌غښوه شراب‌ساقی! بيابه‌ارمان کړې  عندليب ناری وهی چه‌بهار دروی

« عبدالقادر ختك »

❀ ❀ ❀

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه  دشرابو سره نقل دخولې مل کړه

« خوشحال ختك »

## رباب

په‌آواز مې‌بی دزړه پرهار گانه‌شی  مين څکه د رباب په زيرو بم يم

« عبدالقادر ختك »

له مزينه زړه مې نرم او از خېژی  څکه‌خوښ له‌که‌رباب په‌زيروبم‌يم

« عبدالقادر ختك »

باغ دگلو نو گنج د کتاب وای  رودوسرو دو نقل‌و شراب وای

ښې‌ښې محبو بې ښه ښه احباب وای  خو بی د عمر وخت د شباب وی

« خوشحال ختك »

## شراب

زمايار په‌خوب ويده دی چه‌ويښ نه‌شی  په‌پياله کښې ساقی! مې‌تر يوه‌ورو

« عبدالقادر ختك »

گله! نه چه د بلبلی مخ جار باسې  نور چه تل د کې پيالې تشوی ښه‌دی

مگرستاپه‌خيل‌ښايست اميدمدام‌دی  په‌يوه‌پياله خوشحال ختك بدنام‌دی

« خوشحال ختك »

دا گلگون شراب د کومې میخانې دی — چه صوفي يې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه — د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال خټک »

د رحمان شراب له عشقه — نه انګور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د ګلونو میو ناوې راسته ناسته — زنګاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو — وینم په کښې هردم د خوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی — معطل مه کوه ساقي! په داد و مل شه
« عبدالقادر خټک »

یو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده — دا شراب حقیقي نه لری خمار هیڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی — چه یې نه کا زي له انګوره
« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه سستي مکړه — کاشکې بو هم پاتې نشي هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

ګیج ر نا د نمر خپره شوه — زما یر کور د ویر تاره شوه
د بیلتون ورځ تورہ تیاره شوه — غمژ شونا څا په چه بیلتون راغی
زده مې له دی ویرنی سین دی — په ژړا ژاړم خپه ما ور ین دی
زرغون له او بو مې سا دین دی — په نول نولېږم چه تاخون راغی

❁ ❁ ❁

نه به بیا یم نه به بیا راشي — نه به تیاره شپه زما رنا شي
نه به شڅي را ته پخلا شي — بیلېږي پېر یی اوس دیوون راغی

❁ ❁ ❁

د ښښتن یار دی هیر مو نکړی — آ غلیه مخ چه په یا نه کړي
اور بل دې پر ښو وی وا ته کړي — په ما دبل اور کړوون راغی
« دا شعر دشیخ تمین بڼ کاکړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❁ ❁ ❁

وير مې زده سوری سوری کړ — را ته وګوره ملو کې ! !
په بیلتون کښې دي و با سم — له خوږ مینه زده ګی کوکی
را ته وګوره ملو کې !
را ته وګوره ملو کې !

د بلبلتون او رونه بل دی — هر گړی می زړه گی سوځی
لیونی یمه د مینی ! — سوځم زه لکه پیلوځی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

غوړ ولی دی اور بل دی — اور زما په زړه گی بل دی
زه د بختیار خاوری ایری شوم — په اور سوی می گوگل دی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

۞ ۞ ۞

« قطب الدین بختیار »

« متوفی : ٦٣٣ ه »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری — لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد و بله بیل شی — خدای یی څه شکل د تش سلام محتاج کا
زما اوښی د گوگل په جوش پیدادی — لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه د قضا له شسته خېژی — زمانه دخوشحال زړه ورته اماج کا

« خوشحال ختك »

که د استا ستر گی را اوچا رباسم ځانته — له ښادیه به یی نور شاکرم وجهان ته
یو زمان می که د استالیدل نصیب شی — نور به ستر گی یورته نکړم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کښېږدی — تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندی تیر ښیږی ستا په عشق کښی — خدای دی هسی حال پیښ نه کا مسلمان ته
په فراق د ښو یارانو چه ډېر ژاړم — دواړه ستر گی می پیغور کا و باران ته

« خوشحال ختك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم — لکه نی یم وهرچاته په فغان کړ

« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښی شوق د بوسی څه کړم — خوږ شربت په حال دمرگ دبیمار نښلی

« پیر محمد کاکړ »

مونښ له هواده تنها راغلی یو — دښه طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندی مکړه — د ښو یارانو فراق نتلی یو

« پیر محمد کاکړ »

دسحر چرگه خوږ شی په کومی — چه تا ناری کړی دلبر می درومی
یو می دلبر ځی بل رانه زړه وړی — زړه می پدا وړی چه دلبر نو می

« اخوند گدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی — په هر چاورمشه بېوخته مېلما نه
د فراق او ښکو دصبر تیمم مات کړ — په دریاب کښی نشته نمونځ په تیمانه

« شمس الدین کاکړ »

وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره — دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځی بهاره!
ژاړی غاړی غرونه په احوال د عاشقانو — سیل د اوروندی چه رادرومی له کهساره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوردخوزو زړودی چه دغره په ونو بل شو    سری دوزی خېژی له نښتره له چيناره
غوادی چه احوال دفراق جنودر معلوم شی    گوره هغه زانې چه جدائی نحی له قطاره
نورې نارې نشته خو نارې د بېلتانه دی    راشه که بی اورې در باب له هره تاره
رنځ مې نه کمېږی په زمان زمان زیاتېږی    زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره
مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو    خدای زو په هنگام د وصل کېږی دادوه کاره
څه شو که لا دم وهی په شمار دی دژوندیو    رنځ چه لا دو اشی طمع پر بکړه له بیماره
هسې خوار وزار شوم ز خوشحال په عاشقۍ کښې    خپل دی که پردی دی راته نه گوری له هاره

« خوشحال ختك »

چه په وخت د تلو راتلو کاچیغار و نه    دهوا دیاران را یاد زانې اکثر کا

« عبد القادر ختك »

که هر څو د بېلتانه له غمه وا یم    خپل ژوندون مې دروغجن کاندي چه یا یم
په قد کوږ په تن ضعیف گوښه یولی    په مثال لکه ابرو د دلربا یم

« عبد القادر ختك »

له ښکیه وچاوده وخت د صبا شو    په هر مسجد کښې اذان ادا شو
راشه چه ښکل دې کړم اوس به بېلېږو    په ځان زمو نږه صبا بلا شو

« عبد القادر ختك »

مین را یاد شو دا ستا له رنگه    که یو د رنگ کښېني زما تر خنگه
که اشنا نه یې داشنا مثال لري    ځار شم قربان شم تر تا ملنگه!

« عبد القادر ختك »

وخت د سحر شو پر یوتې تلې    له ښکېیه لوریږه را و ختلې
د یار د راغلو وعده شوه تېره    په دېر ځکتل مې ستړ گې و تلې

« عبدالقادر ختك »

د مني وخت ؤ وې لیدلې    یو څو بلبلې چه ژړېدلې
خوارې خسته وې وې مې سزا یی    چه بې گلو نو و یا ښېدلې

« عبدالقادر ختك »

ودل د هجر پرما شرط مکړه په عشق کښې    ز هر چا خوږ لی ندی په شرطو نه

« شمس الدین کاکړ »

دزړه وینې مې په کومه درشتی خورې    هغه شونډې چه په شهدوشکر خوږ شی
بېلتانه مې هډوپوست هسې وچ کلک کړه    دیار لاس مې په وهل دخنجر خوږ شی

« شمس الدین کاکړ »

د هند بار را نه آهسته و وره!    یار مسافر دی د ربره بې ژ غوره
د ساېی گل ؤ په نازلوی شوی    و تلی نه دی هر تېز له کوره

« شمس الدین کاکړ »

د هجران له دېره غمه ولې نه مرم    له دې هسې رنگه ماتمه ولې نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږی    د دې د هر له ستمه ولې نه مرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په هر سحر زما به ژړا خاندی
چه‌په‌لېزه گرمی شا کاندي و گل ته

له دي هسي صبحد مه ولي نه ..رم
ه دي بیو فا شبنمه ولي نه مرم
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه‌په‌شپه‌دجدائی
درسته‌شپه‌بیخو به‌دامان ستوری شمېری
« خوشحال ختك »

## کاغذ

مخ یی سپین ورق خالونه توری په کاغذ
دادی تما ما د محبت کمال طور ونه
ته‌که‌نه‌رادرومې گاهی گاهی‌په‌خطیار کړه
مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندې
وران به هر گز نه شی کښلی توری له‌ازله
ستوری د طالع هم له جبینه معلو مېږی
مه گوره یی خط قلندره د یار مخ ته

سرو مال په شا عاشقان بلوری په کاغذ
یار له جدائی چه یار ژ غوری په کاغذ
نیم ملا قات و ینم ستا له لوری په کاغذ
کله کله یاد کړه خیل‌غمخوری په کاغذ
هرزمانې که سترگې د چا اوری په کاغذ
څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
بی تورو ندبېږی چه‌څوك گوری په کاغذ
« قلندر »

## ۱٦ — ژړا

که گریوان می‌دسپوږمی‌دنمر مشرق شی
درحمان خندا به اجسر دژړا ده

زه چه یار په ستر گو نه‌وینم تورتم وی
تازگی د گل به قدر دشبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبر به ی له حاله شفق بولی
که دوینو به ژړلو کړم اسمان دوب
«عبدالرحمان‌مهمند»

بی دردان ئی‌لاس‌سرخی دشفق بولی
که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعې په خېر ژاړم تر صباحه
ته د صبح په شان خاندي له‌غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامی شوه تازه دزړه داغونه
لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
ما دیار په زړه کښ جوروستم نشته
در وی ئی سپی رقیب را ته پرېښو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دیمنی نشا نه ده
بلبلانو پر ي لوولی گواهی ده
که فریاد په زوره‌نکړم‌زړه‌می‌چوی
که‌په زوره ناري کړ مه رسوائی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر سترگې د گل له اوښود کی
په دابا غ کښ ئی ژړلو خندانشته
« عبدالقادرختك »

روحی کتلونه ( ۵۲۵ ) ب : سردارمحمد ؛ ج محمدعلی خان : د عبدالغنی : ن رجب علی : ه اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ۷-۱۱-۳۴۵ ع

۱۷ ـ او ښکي :

څه اثر به زما او ښي په تا کاندي

هومره او ښي مي بهيږي په رخسار
په گريوان مي تل داوښو باران وري

خداى پيدا کړم لکه اوښکي په ماتم کښ

پاکوم سترگي په اوښو ديار مخ ته

په ناولي مخ ديدن دښکلو نشي

له حسرته خپلو او ښکو برسر يوډم

دا ورك زړه غواړم په او ښويسي ځغلم

۱۸ ـ غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
له زگيروى ئه مي نورخلق په عذاب شوه
زه دستا په غم کښ شمعي غوندي ژاړم
زړه مي ستا په اورى هسي او بړان دى
ما دي ستا داند ښنو په غم کښ سوي
داد ستور دى چه لوى غم يه سرى ورشى
هرچه ما په نصيحت له تا جار باسى
سره لمبه گوره چه څه کا په وچ د کى

هسي زه يمه ديار په غم تا زه
سترگي وخورم که نې وچي کړم له نمه .
زه به څه کړم دچا چاري بى دياره
ديار نوى نوى غم زيږوى و صل
که دي زړه له غمه وچوى دلگير مه شه
ښايسته ياران گلونه دي رحمانه !

لا تازه شي اور په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »
چه غرقاب مي هم گريوان دى هم کنار
نه ورکيږى در جهان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند
ځکه برخه مي ژړا شوه له السته
« شمس الدين کاکړ »
ناروا دى په قران وهل خپچن لاس
« مطيع الله پيرخيل »
چه خواوند نشي د اوښو په باران مخ
« پير محمد کاکړ »
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله يوسفزى »
زخمي ښکار به بسمل دوينو پيدا کيږى
« مرزا حنان »

چه مي ځاى شي نه دننه نه د باندي
تل دوچو له کبله سوزى تاندي
ته زما په غم کښ صبح غږندي خاندي
لکه زلفي دي په مخ دى او بړا ندي
د دنيا اند ښني واړه لکه سپاندي
نور غمونه ئي همه شي تر پښولا ندي
بيا دي ستا په لورى درومي له ماو راندي
مخ ديار په رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »
لکه وي هره گياه په نسم تازه
که مي شي په دا ژړا صنم تازه
هر سړى دى پخپل سا په دم تازه
رغوى سوى پر هر مر هم تازه
کا تبان کړى په چول قلم تازه
بيلتا نه کړه اکثر مړا وى کسم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه غم دبختورو له خاطره

تل مطیع‌الله ځکه سرور په‌دودنغمې کا

غم‌دیار مې په‌خاطر کښې محکم بیاموند

جای نشین وغم ته تل‌یه انتظار کښې

لاله افسوس کاد زړه له داغه
کفن ئې رنګه کړ دزړه په وینو

کوتې‌چه په‌نبض‌زماز دی‌هغه‌پری‌سوځی

قسمت هسې له‌ښا دلیو کناره کړم
« عبدالقا در ختك »
دا مشهور متل‌دی فریاد غم پر ښا نوی
« مطیع الله پیر خیل »
په کعبه کښې‌مې صیاد دحرم بیا موند
« پیر محمد کاکړ »
د کالا پا نه بندی یم د انګریز
« عبدالله یوبلزی »
پسر چمن نه‌دی خاطر فراغه
په ار مان ویست خزان له باغه
« شمس‌الدین کاکړ »
ځکه‌مې حیران شوو علاج و ته طبیت
« پیر محمد کاکړ »

۱۹ _ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښ

عشق له عقله ځځه کا خلاف کارونه
بی‌هنره سپی رقیب هلته څه غوښت

د رقیب وسرته وزی تېزی ناست یم

مافبول د رقیب ناز کړ ستا دیاره

هرڅوك زدی کوډی په مخکښ دبانېز
« شمس الدین کاکړ »
ګڼه زه څوك اشنائی د زور ورڅوك
که ویارته رسېدای شوی په هنرڅوك
« شمس الدین کاکړ »
پرې‌برئې‌نېزدم که‌ئې‌پلار په‌لاس‌را کښېوت
« مرزا حنان »
سوداوزیان‌پداجهان کښې‌خوراوورور دی
« عبدالرحمان‌مهمند »

۲۰ _ جفا :

ستادعشق‌حرفونه‌تورنه‌دی ګلګون دی
تش به نه شی هغه خم‌دعشق له میو
ددنیا چارې همه وا ړه فانی دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له نه‌دی
در جهان دزړه خوناب مګر قبول شو

له خو بانو چه کوم دوفا طمعه

نن‌مې‌پیاله‌تورو‌ستر‌ګو‌سره‌جنګه دی
که پر بکړی سر په‌لاس ورلره راشم

هم په داچه نو شته په جګرخون دی
چه‌ئې خاورې د فرها دو دمجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې‌رابېرون دی
چه مخونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »
کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »
پرلبانو ئې دزړه دوینو رنګه دی
لا په دائی باور نشی زړه‌ئې‌سنګ دی
« تیمور شاه ابدالی »

## ج : بديعي تشبيه ګانې

خوله دې ګل غنچه ده تور ګيسو دې سنبل پاڼې ‌‌— ښې دې د زر کې سپينه غاړه دې د زانې
شونډې دې ژوندون ښې به ستر ګو کړې خونه — ژبه دې شکرې ده د ننه په زړه پانې
هېڅ پرې نه يو هېبرم دا دې زنه که مڼه ده — خال دې دی په زنه که دانه ده د ممانې
« خوشحال خټك »

کنډه ولې د دوا ړو ستر ګو ستا په طمعه — و هر لور ته مې نيولی کور په کور دی
چه مې خيال د تر کوو ليد و په زړه کښ — دوا ړه کسې مې و زړه و ته نسکور دی
« عبد الرحمان مهمند »

ما په خوا ست وزاری خوله له يا ره غوښته — ده په نا ز لکه غنچه سره و نغښته
شه خو حال زما تر غوږه د يار ورو ړه — چه مدام لکه پرتا خواب د ناز با لښته
محبو با پر پا انګړ و ا و ښته په خوب کښ — که هو ستی ده د بهار پر ګلو ر غښته
ثمره د بد فر زند ښکنځل د پلار دی — پيدا مشه نا خلف د چا له پښه
« شمس الدين کاکړ »

چه له خندګه د ګلرخ مې اغيار کښېناست — په چشمانو کښې مې ګل عوندې خار کښېناست
« پير محمد کاکړ »
آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو — يا پر تخت د زمرد شهر يار کښېناست
« پير محمد کاکړ »
که عشاق جنګ وجدل کاباندې څه شوه — پر ګلزار وی د بلبلو شر و شور
« پير محمد کاکړ »
کوم يو له دوه ؤښه دی سپين رخسار که چنبيل ګل — کوم يو له دوه ؤښه دی تور ګيسو که سنبل ګل
« پير محمد کاکړ »
پر سينه د ګلبدن ګرېوان پاره شو — د غنچې له چا که رنګ د ګل ښکاره شو
« پير محمد کاکړ »
دا تور خط را غی پر مخ د ګلعذار — که غالب شوه په کشمير پاندې کفار
« شمس الدين کاکړ »
چه مې ستا د مينې داغ په خاطر يو ړ — زړ غونه به مې لاله شي له تربته
« ميانعيم متي زی »
ميانعيم ناست دی ستا دغاړی الېلونه شماری — پکښې پراته دی هزاران زړونه بلبلي صنم
« ميانعيم متي زی »
ګوتې تورې کړې په بای کړې دا پورې — زه حيران يم ستا د سپينو ګوتو تور ته
« خوا جه محمد بنګښ »
زه درپسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع — ته صباخندان لکه ګل واز ګرېوان دچاپي
« عليخان خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون ئې د تند رو ، در بدہ ئې دی د سرو   ببر کوی به بلهو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختك »

تما شا چه زه د خپل دا غو نو تل کړ م   هم گلشن هم لاله زار به لاس را کښېوت
« مر زا حنان »

د گلرخ په هوا در ستّه شپه ر فتن کړم   د شبنم په څېر بښې پیلې سر سر تور تم
« شمس الد ین کا کړ »

او ښې در ، ر نگ گهر با ز ده لکه لعل   جنس مې دہر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیا ل ته مې خالی کړ د ز ده غو لی   مېلما نه لره تیا ر شی سرای د ستور دی
« مر زا حنان »

چه دې خیال په خا طر را شی مضطر ب شم   لکه ببش چه د مفلس کره مهما ن شی
« مر زا حنان »

چه تا و و یلم تا ز ه غز ل ا نشا کړ م   پرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خو شحال ختك »

پر خپل ځای با ندې ولاړ یم لکه شمع   ترفزل پوري رفتار کړم لکه شمع
« شمس ا لدین کا کړ »

وخت دی راغی دفدا که فدا کېږی   شمعه بلېه شوه تازه پتنگه خوځه !
« جمعه بار گزی »

آفرین دې په ول ول تورو سنبلو   چه ئې ځای د پا سه وینو په گلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېني   رنج د هجر به شی د فع د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شی   د بانو په ستنې ستاد پو ندې خار
« شمس الدین کا کړ »

# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ١ ـ اخلاق

که د رنگ خوبی ئې ستاېې بودېې نشته — په جهان کښې که باقي دي خو اخلاق دی
« خوشحال ختك »

په خو یونو کښې ډېر فرق دی — که سړی پر ې خبردار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا — چه خپل هم ځینې و بیزار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا — چه پر دی ئې خد متګار شی
که څوك خپل خصلت ښه کا — تر سرو زرو به ر و بېدار شی
« خوشحال ختك »

ثنا د ګل شی له ښکلیه بو یه — صفت د مرد شی له نیکه خویه
اهل به نه کا ستا ینه هیچېری — د ګل له ر نګه د مرد له رویه
« عبدالقادر ختك »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وی — په تحقیق هغه ار ذال الناس وی
شر ف په خوی دی په دیانت دی — که څوك شریف وی یا څوك کناس وی
« عبدالقادر ختك »

په ښه خوی د سړی قدر قیمت کېږی — بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وی ځنې تښته ! — بې هنر سړی که وګوري لاشی دی
« خوشحال ختك »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږی — په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه د ځان کړل — نور د ګل په خبری پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره — له ګڼلو تراند تېره
هغه څوك چه اخلاقی وی — د هغه نوم به باقی وی
که د چا اخلاق ښه نه وی — د هغه به ژوند ښه نه وی
د اسلام دین دی راغلی — پیغمبر دی یا خپد لی
چه پوره کی ښه اخلاق — او پر ځای کی دا میثاق
په خویو انسان انسان دی — که نه وی خوتش حیوان دی
مکارم انسانیت دی — ر ذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پرې سره ځمکه سره پنډه شي
په نسب که خان، نواب قاضي قضات وي

لکه کښت له باران اوباد په کار دي

رب دې مکړه د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزي په کنجله
« احمد گل اسلمی »

د عالم تولي په خلق په احسان شي
« خوشحال ختك »

۲ - په ځان باور « او » همت :
چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندي بې حکمته

په همت کښي هغه زه یم
زه خوشحال دده په کړه یم
« خوشحال ختك »

په تېرو تورو ور دروم یکسر ننګيالي — په لمبو باندې ځان ولي پتنګان!
د کنجکو قدر یو، د در ویل دی — ننګيالي سره څه ژوی بې ننګان
ارتګي د زړه دليل د جنتي ده — د دوزخ داور لايق دي دلتنګان
د باد شاه په سلطنت پورې خندا کا — په سپهر وایرو لړ لمی ملنګان!
نور ماهي ئې تار په تار دروي له مخي — ما تو ی لو لې بېړ ی نهنګان
دهاتي دپاسه سپور ورته پیکه وي — چه د ميو پيالې آخلي سر هنګان
څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر هار ژاړې پلنګان
« خوشحال ختك »

چه په غوښو ئې روز گار هغه زمری یم — نه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك یم
که عالم راته کل تا وکاغم مې نشته — په رښتيا ویل د دېرو پو ليو لك یم
په دانش په شعور نده په همت ده — چه دا هسې سر گردان لکه پښتك یم
هر پښتون چه د مغولو نو کري کا — که دی زر، د هغو وادو بهترك یم
چه منصب مې د مغل خوړ يو ملك وم — چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته — شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم
نه مي کار په خاص وعام نه په ديوان دی — نه په درو لاړ د هر يو مردك یم
نه تصديق شته نه يادداشت شته نه توجيه شته — نه په فکر د سند نه د دستك یم
هر گيدی به چه له ما سر کوزي غوښته — د هغه د سر یا توره یا کوتك یم
پښتانه له ره شړی اندېښ مې بس دی — نه په فکر د مسندنه د تو شك یم
آزادي ده په ساده سپينه جامه کښي — خلاص دغمه د زر بفت اود ميلك یم
د ښو جونګړې هسي راته ښې شوي — وای نا ست په محلونو د آهك یم
که او ګره د ښو شته په شړو ښو سپينه — د مغولو پولاو پاتي دېر بری دك یم
چه نېولی مي داهود دننګ ونام دی — که له خپلو هوده وا ودم كنيزك یم
په بل غشي تو پك هيڅ ويشتلی نه یم — که ويشتلی یم خو بيا په خپل تو پك یم
چه شپېر مي بڼی خپل وو کنډو کيرشول — پر وا دار په لښو پرونو دبارك یم
د کريږ بڼې مي تو ئي لکه باز کړې — گمان مه مکره چه بې پرو ښا پيرك یم
تف په زېره د همه واړو بار کو — لا زما په زيره هم که زه بارك یم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی      زه خو بیا دسبا کې انا خټک یم
نن خو قامړا سره ډېره جفا و کړه      کانده بیا د خدای وحکم و ته ځلک یم
که څه حق یا دنیکی یا دورورې شته      و یا داش وته په طمع د هر یک یم
مهمندي زما د ګېډې لاس او پښې دی      راضي من دافریدی یو په کومک یم
ډېر چینې چه تراوش و کا دریاب شی      چه ایډه شم اوس خود ایم یو بولک یم
کړ لانې څړ بښې خو چه پښتانه دی      زه د ننګیه په کار دواړو مشترک یم
که مې عمر په شماره تر شپیته تېر دی      لا په کار د سوارۍ لکه از بک یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره      ننګیالی دزمانې خوشحال خټک یم
« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تېشه د فرهاد شوه ده      تر هغه چه نا هوار لکه خارا یم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم      خو ش په طور دمک بې دست وپا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاک په خپل گردن زده      حو صله دې په مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحر و بر      که څه سمه وی که غر
په همت به ئې تسخیر کړم      په شاهانه شان وفر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه      دون همت اندیښه مه کړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلک ئې دزمري په خوله کښې ور کا      خدای دې نه کا چه عارف په کښې غارت شی
« خوشحال خټک »

څه هغه شهباز شه چه دې ځای په سردرو وی      نه لکه د کلی کارغه گرزه غم د بڼ کړه
« خوشحال خټک »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله      که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال خټک »

سر دې دروم مال دې دروم پت د نه ځی      د سړی د چارې کل خو بی په پت ده
چه یې خدای ور کاو چا شکر د کاندې ندی      په جهان کښې لو یه بخره د همت ده
« خوشحال خټک »

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیائی په ښکته      یا عیسی اره وردرو مه یا قارون ته ځان سپاره
د نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وی      خپل کشکاب دخپل محنت خوره په سر را اوږه پشتاره
« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

هغه زیست چه د عزت له مخه نه وی      چه یې کا په هغه زیست پوری هکه پکه یم
اوری پوری په منصب په نو کری شه      چه تر فهم و تر نظر د مغل کښکه یم

په خپل نام و ننګ چه را شم لېونی شم — خبر دار کله په سود او زیان دلګی یم
چه په طمع د اوږ و ز غلی و شست ته ! — ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمکی یم
تر قضا پورې د هیڅا چاره نشته ! — او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی — نه چه ګرځی ګونګټ نیسی بادخور ګکی یم

« خوشحال ختک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دې په همت شیدا ختکه

« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په غره دباز غوندی پرواز کا — بیا به وا نی د خوشحال ختک پرنشته

« خوشحال ختک »

ساقی جام د مې و مه پر ښږ ده له لا سه — خو د عقل څه زده وی لا به مست کښی
د بلند همت کښی پورته پورته درومی — ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښی

« خوشحال ختک »

چه همت د سړی خو قدر ی هو مره — د آمیز په تله هر سړی تا له شی
د و لتمن سړی هغه بلبلی بو یه — چه له سینده نی جدا د چا واله شی

« خوشحال ختک »

نو ره پښتو نخوا ه په ځای میشته ده — خو یو زه دی زمانی په کښی منصور کړم
که یی درست د ه تو زور راته ښکاره کړه — نه به بیا په قوم کښی کښېنم نه به هور کړم
عجب مار می جا ر و تلی تر دوه پښو دی — مګر لوی پاڅو پیداشی چه یه دور کړم
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښېږی — بو یه دا چه ځان فلک وته تر بور کړم
په خپل اه مې باور شته اثر به وکا ! — ر قیبا ن به او ر لړ و نی د تنور کړم
یو دوه سړی مارمی پروت په دوا ړو پښو دی — په دیدن یی له نشا طه نه نفور کړم

« خوشحال ختک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه — چه محتاج د خیاط نه شی پیر هن ته

« کاظم خان شیدا »

د بابنی دباز نصیب شوی تازه غو ښی — دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کندی

« مطیع الله »

وزی تېږی پروت په خپل پوز کی ښه نې — نه په تخت د پا سه نا ست د بل کره
دمنت پو لا و د ې ز هر شه که نې مومې — د محنت سوی سکرک د سا ګی سره

« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی به لوی دریاب کښی ګرزه — په بیله کښی د ې زوال وینم نهنګه
عاقبت به ککری ور بانده ی کښېږ دې — تر خراغ چه کین وښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پالنګ را سره نشته — داهم شکر چه نې بوی ځی له پالنګه
دعزې په تیغ نې خوږ ښه نې خوشحا له — مړ نی په روغ صورت نه ځی له جنګه

« خوشحال ختک »

که غوټۍ بسې وهي په لاس به در شي  چاوی دا چه به دریاب کښې گوهر نشته
که د جنگ په کار کښې ډېر دي حکمتونه  خو صاب بېر نشي زلمیه ظفر نشته
که عجب باد شاهي لکه خور شید کړم  یکه تنها په جهان گرزم لشکر نشته
د منت دارو که مړ م په کار مې نه دی  که علاج لره مې راشي مسیحا هم
« خوشحال خټک »

راشه گوره نامردان بلا و هلي  د ډېرې میدان بر پېښ دی لري تې زغلي
د آسمان د پاسه گنبت ننداره نکاه  کوز د ځمکې د تلي په مینځ کښې هلي
مړ هغه چه یې نوم نه یې نښان شته  تل تر تله په ژوندون یا نی ښا غلي
خوك په خپل پتي کرل کاد اغزي و  چا په خپل پتي کډو نه دی کرلي
پسینه کړنه هو مره فائده نکا  چه په وخت کړنه و کا بر آ خلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی  رنج و گنج سره دا دواړه دي تړلي
« خوشحال خټک »

بنسیاد د چارې په مصلحت دی  بیا د مرد انو په ښه همت دی
چه سره یو شي دا دواړه انو که  واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال خټک »

مردان هغه دي چه همتنا کښېوي  د ننگ په کار کښې چست و چالاك وي
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض گڼي  په زړه هم پاك وي په خوله هم پاكوي
« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو گرزم  خه منت به دد و نانو د دینار کړم
چه په وازه خوله مونده شي مه یې وینم  که صدف غوندي حاصل در شهوار کړم
« عبدا لقادر »

که دمځکې غوندي کوز په تواضع یم  په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دې د تپوس دی ځان بازمکره  ځان په رسم د جانباز و جان بباز مکړه
« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر لرینه  په ورو چارو هیڅ کله کاته نکاندي لوی چاری
« عبدالقادر »

مردان هغه دي چه همتناك وي  په هره چار کښې چست و چالاك وي
چه غم پېرې راشي پروا دغم نه کا  خوازه له هر چا په زیست وړوا ك وي
« خوشحال خټک »

چه په شان د آفتا ب ندی گرم رو یه  ستا په سر کی په سایه دهما خوښ یم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا ډېر په هسکو او  لکه موج نکړمه بیم له پر بو تلو
سوال مې خوی له در افشانه ابر نه دی  صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته  ه زړم بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

۳ ـ امید :

د شپې ښتن دي سحر نه ګوري
هیڅوك د دی طمع ا مید پري نه کا

له مقصوده نا امید مشه پـکـښته

دادستور دی چه شپه و لوږی په څـکه

په ژوندون به لکه شمع دلـسرد نه شم

هر ګره ګره کشا لری نیـکبخته

٤ عزم اوتوکل :

دهوښيارو نادان هومره تفاوت دی
که په مابانديې خرخ خوری پروايی نکرم

نه رسي تريارهٔ هرچه دیري اندیښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووايم حیران یم
توکلت علی الله و ينا پـو ه ده

په پریښانو اندیښنو خاطر پریشان شی

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دي سستی وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دی په هر لوری
څو طلب هومره موندل دی په دادور
د عسلو خوازه کله هغه موی !

غشی چه ویر ولی ښه تیر انداز شی
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه دبل غوښې خوری مردار دی
دذري په خیر دلمر په طلب ګرځه
کار به تش لستونی نشی بې دلاسه
چه تقوی د یانت نلری رحما نه

ګوندې پسرې و خپژی د صبا ستوري
باران پسه تیز و کښتونو اوري
« خوشحال خټك »

خدای په څـکه کامرغونه د هوا پيبني
« عبدالحمید مهمند »

پسه شتاب ور پسې صبحدم را ځـی
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرګه پورې زما جانګزاری ده
« کاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غو تـه چیین مـه شه
« عبدالرحمان مهمند »

خود څمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
دهر هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نوری کیسې پریږده دعشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزمانې سره ساز نشه
«خوشحال خټك»

جمعیت مومی خاطر اـه تو کله
«عبدالقادر خټك»

چه و تلی یی ددې خونې له ویشه
په غښتونی یا نمې ده جفا پیښه
بلکه لا تر طلب بخره مومی بیشه
چه حذر کا د مچی له باده نیشه
« خوشحال خټك »

چه مشق دخط کړی وخط ته سازشی
ورو ورو په هرهر هنر ممتا ز شی
«خوشحال خټك»

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تیبزه هسی پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلی منگولی نه کا ښکلی — هومره نه‌وی ځربې غوښې ورته تلې
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا — چه‌قبول کاندی د بحر خوږی چلې
عاشقان چه‌ترسره تېرشي‌هله ښکار کا — دابرو پېښې خولې لکه بجلې
بازچه والوزی له جالې هله گوری — د ښکاکانو ښایسته سترگې ښکلې
چه داور بخری یاد سره رفیق شی — بیا ماله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه‌سیلاب دغره دسره نه روان شی — بیاهاله بیائی په‌میخ دبری خټلې
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصیل پسې‌یې ځکه کوښښ‌بویه — خپل‌هنر له‌لاسه‌مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه‌توده ترخه قبول لکه دریاب کا — هم هغه د قیمتی د ر و مثاب شه
چه‌لمبه یې دآتش کره‌په ځان تېره — له‌غه پسه د گلا بو . گل گلاب شه
دکمال کسب پیا یه دسعا دت ده — هغه بنه چه‌د کمال‌په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله — چه‌په علم یې عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال خټک»

ښادی غم‌غوندې آسانه موندنه‌شی — سور په‌خپلو وینو لعل دبدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زرنده‌هله‌څه حاصل کاندې چه گرزی — یو زمان قراری مکړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له‌آزاره چا بازار مو ندلی ندی — له‌انگاره چا گلزار موندلی ندی
تلوار مکړه په خپل‌وار‌به‌برخه‌درشی — بې له‌واره چاخپل وار موندلی ندی
په‌قصور مطلب موند نه شی‌پسی‌پاسه — له گفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع‌الله پیرخیل»

کار کوه کار به کار هم کاردی — تاوان‌په‌ځان بایندې خالی گفتاردی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی — گو تره گویکه طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې — عمل هم ورك شو په مځکه باندې
او س په خبره بپول و بدل دی — دا بیت‌بازی دی‌عالم یې کاندی
«عبدالقادر خټک»

کله‌به‌لا دروی له‌ماې دسحر خوبه — خوب بیغمه‌نه کاچه‌په‌مخکښ یې‌منزل دی
«عبدالقادر خټک»

چه‌منت په‌ځان‌قبول کانوراحت‌شی — چه عارف د مصیبت شی عافیت شی
«خوشحال خټک»

٦ ـ صبر اواستقلال :

غشی چه دبړ ولی ښه تېر انداز شی — چه مشق دخط کړی و خط ته ساز شی
کار د محنت دی د مشقت دی — ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شی
« خوشحال خټک »

مړ نېي د هر چا نندی سره سمې
دخره بار د فیل په شا باندې مثقال دی
نه چه لافی د مردانو د میدان کړی
په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
که همه خلق یې سنز شه پخندانه
بېچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټک »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی
چشم پرې راشی پکښې خو شحال نه دی
مرد دی یې هیڅ ده و زما په بوهه
که بې په جاه ودولت شوك سیال نه وی
« خوشحال خټک »

اضطراب به دې خلاص نه کاله نفذا
مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټک »

په تا ککه را شی خدا ته لو یه
تېښته تسلیم صبر ته بو یه
ته به ېې دفع په صبرو ککړی
نه به لښکر و په زر او زو یه
« خوشحالی خټک »

صبرو نیسه په بخکښ که مراد غواړی
هیڅ کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حنیانه صبر و کړه مراد به مومی
د فلك زر نده په وا رده پس ، پیش
« مرزا حذن »

خلاص به نه شی سرکشان له گوشمالی
چه فلك به جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »

دا نا یې مه گڼه چه صبر نه لری
چه صبر نه لری حکمت به څه لری
سړی دصبر په کار کښې و زمیه !
چه صبر ناك وی هر څه به ښه لری
«خوشحال خټک»

صبر نا کو سره جور فلك نه کا
د فلك جو ر د چا چه سبکسا ر و
« خوشحال خټك »

ژوندی که گرځی خان یې ژړلی دی
تو ر زن دسر په وینو لړ لی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی
ظفر له صبر ه سره تړ لی دی
« خوشحال خټك »

شورش مکړه د گردون له کشمکشه
او مه کله کا مرغی له اضطرا به
« اشرف خا ن هجری »

## ۷ــ دوخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا
نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتیا
هرڅوار چه تروخت تېر ه شی عنقاشی
عنقانه نیلی په دا م ککښې د هیڅا
ترورخ تېری او به بېرته نه جار وزی
نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
تېر ساعت به مثال مړی د لحد دی
مړی چار ی ژو ندی کړی په ژړا
هره نبه چه صحیح گڼه په زړه کښې
په غر ور به هغه نبه ککړی خطا
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه
چه به دا کښې دې بهبو د دی که بهدا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت ویده وی

که د پره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مې به یې ږی ملاح کما

آبشاره ! ولې دا همې ژاړې !
کم قل فریاد کړی به کانی سروهې !

کړل دې ویل دی دوازه اوان لری
چه کار دنن ورځې پر پرزدی صباته

۸ - زړه

شه سړی پردی بهدلاسا په نیکی خیل کا

یو زړه د خوشحال ندی چه جهان یکښې ایده شی

دوازه ځکو نه لکه تن دی
زړه یې چون او بیچکو دی

خودې زړه خاندی خوله دې خندا کا
مدار دهرې چارې په زړه دی

دا ماز ککدالو اطو ار مشکل دی
ه. هم یې نشته گنډل یې هم لا

مېړو سوځه په اور کښې شراب وښه

که هزار ځله تقوی پرهیزگاری کړې

قلب د دمومن گوره ملقب په عرش الله دی

چه دزړه قوه دنیا څخلو . . . پروا وی

و گوری وایه کاروانه خیل کا
خو کله چه آرام گتې د شکو ناتم گتی

د هغه عالمو ز پرې د و شکو دی
« عبدالرحمان مهمند »

په وخت چه نکړی بې وخته څه شی
په ژانگکی چه کښېوزی یورې هاله شی
« عبد القادر ختك »

له چا فریاد کړې خوك پسې غوادی
پیانه ر انشې او به نچه لا دې
« عبدا لقادر ختك »

چه وخت یې تېر شی افسوس ار مان لری
هو نیار به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال ختك »

کوم شاغلنداده چه خوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال ختك »

د هرچا زړه مرآت دی صفائی وراره بویه
« خوشحال ختك »

ککار د تن جو ډ وی زړه
خوك دا غو شه گڼی زړه
« خوشحال ختك »

چه زړه دې ژاړی ستر گې ژړا کا
زړه دی مفتی دی هره فتوې کا
« خوشحال ختك »

په دا به یوه شی هر چه عاقل دی
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »

در ته وایم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »

شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »

زار دازار جوړو چه دزړه په بازار بلوسی
« دالپوری حافظ »

تږو که زړه د سړی پوسی څه یکار
« عبدالرحمن مهمند »

مردان هغه دی چه کار دیل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
« خوشحال ختك »

نه سره سم دی و اده مړ و نه ؛ نه سره سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکه غرشي که بیا ندې راشي هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم یه زړه‌زده یه‌یر هارونه دا نیا یه ګل کړی نادان خارونه»
یه هره سوړه لاسونه مه منه ه یکښ‌یه خوب کا خونی مارونه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی یه‌چا ګرم مه‌شه که‌دی رضاوی
که‌څوک ناحقه اتا پرخاش کا اند وه نې مکړه ظفر به ستاوی
«خوشحال ختک»

په‌بدن کښې دزړه اهمیت

زړه په مثل د پادشاه دی هر اندام دده سپا دی
ټول دده فرمان بردار دی دی یا دار دوی خدمتګار دی
کل اعضا یې مسخر دی دده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړی لاس نیول ، ستر ګی کتل کړی
په بدن کښې ګوشت پاره ده چه کو چنو تې یې چشه ده
چه وی راست شی راست بدن شی چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فسا د؛ تما می یه زړه بنیاد
ته مه ام اصلاح درزړه کړه په هیڅ و خت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده د ګوهر و خزینه ده
ډېر یکښې دی جو اهر قیمتی نفیس نادر
اول عقل نه ګوهر دی د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر یې معرفت دی زیات تر نو ر و په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه واړه دی اوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم یې ده ساتنه له جمله ؤ غلو ر هز نه
چه دښمن یې تالا نه کا جو اهر یې یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شي نورمژګان په‌نم‌دزړه نورخراب شي خا نمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهوس ته چه‌یوهیږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندې سوا د یا ر له مخه ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یی‌عرش او کرسی لاندې‌ترقدم‌دی بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ١٠ کعبه ده اوچه که‌آباد کاڅوك ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه زدی په مخکه مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌دآسمان مخکی‌ترمیان‌دی یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غوادم بی‌یاره چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان ډېر دی په دنیا کښی ولی نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه په ځای د شکر شکایت کړي! ... منکر پېژي په عطا د سبحان و اې!
در ښېلي خدای د هر ي چرې توان دی ... په هر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زړه د نفس په پیروی در شخه لاړو ... د خبیث په لاس دي ور کړو قرآن ولي!

« رحمان »

بنګ شراب سرود کو ه عبدالقادره! ... خو یوه مکړه آ زرده د مسلمان زړه

«عبدالقادر»

مرده دل دي له تړه زړه بیرون کا ... یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي خوک مړی
جمعیت چه لدنیا ید نیا غوا ړی ... هغه غږی په معنا د شګو پړی

«عبدالقادر»

هر څوک چه یو کا زړه خوله خپل دواړه ... دو یم به نیت شی ثابت له واره
که کمی ورغی په دین د نیا کښې ... تاوان یې واړه وزما په غاړه

«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یې سائل نکړي ... ویره مې کېږی چه یې دبل نکړي
که دادي خوی دی دادي خصلت دی ... خپل به پردی کړي پردی په خپل نکړي

«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا شه کېږی ... شه کړه دعا ګټه د عا قبلېږی
ازار د هیچا د ا خستو نه دي ... شپړی د خو ز و زړو نو لګېږی

« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج د زړه په ویرانه کښې ... پر و ا نلر م د شهر په عسس

«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو او ښی یو وار بسی ولاړ نی ... لکه چیر ته ابشکر دروی د سلطان دوست

« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دی ... بیا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ

« خوا جه محمد بنګښی »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی ... چه پراخ تر هر کشو ر دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی ... په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یې مه بو له بېحد ه مشرف دی ... چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی
دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی ... چه مد ام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یې صفت و کړم څه به و کړم ... چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بیحد ه عالی شان دی ... چه تر هر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی ... چه محل د در ګو هر دی هغه زړه دی
څه سیالی به نیشکر ور سره کاندې ... چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولې په وېل حکم دقاضي دی
چه ظاهر وباطن دواړه پرې رو ښان دی
هیڅ اشیا یې لـه فتره بېرو ن نه دی
زه ئې په یې ئـن کم هـر بیـا ن کړم

چه مقول دخدای په در دی هغه زده دی
چه دا هسې بلند لـمر دی هغه زده دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه زده دی
چه منبع د هـر هـنـر دی هغه زده دی
« عبدالنبی »

دلجو ئـی په دي تمـام وکړی و کړی

که نه هم د د لجو ئی په جستجو ی شی
« قلندر »

داپند له مانه په زده کښې یاد کړه
زدو نه د هر چا په احسان بناد کړه .

خو د ي لا س د سې مر و ت د اد کړه
آز اد بنده کړ ه بنده ه آز ا د کړه
« عبدالقادر خټک »

٩ ـ ژبه

فولا دی تو ره وی که اویه تبه !
ډېر یې بلا به د ر خخه وا و ړ ی

تر دا لا بـه ده بد گـو یه ژ به !
ژبه که بده کـړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټک »

پهواك چه نه اری په کـام کښ ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که گـنـګـك شی ښه دی په لویه تبه
ایمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټک »

خوږه مړی ده کـه خو ږه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هـنر اـري

چه خوږلا پرې خپل کـړی زما صاحبه
چـار به دي تل وی تر سیـا ل غالبه .
« خوشحال خټک »

که هر خو ډېر یې تـر صحبتو نه
لا به یه ژ بـه ډېـر فهم و کـړ ی

عـلـم ا د ب لـر ي فصا حتـو نـه
د ژ بې د ېـر د ی قـبا حتـو نـه
« خوشحال خټک »

ژبه عا دت کـړ ه په ښه و یلـو
که یې عـادت کړي په بد گـو ئـی

چه دي عا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کـا تر پر د و خپلو
« خوشحال خټک »

په مر هم دخوشامند سره روغ مشه

هغه زړه چه پـکښی تیغ دژبان کښېني
« پیر محمد کـا کړ »

په مجلس کښې دمه رویو ځـکه زاړی

شمعې هم ځکـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله یوپلزی »

هر سـړی چه شی گـویا لکه قلم

سر به یې شی له تن جـدا لـکـه قلم
« عبدالله یوپلزی »

درست عالم یه داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلي ژ بې به قفس کړه
« خوشحال خټک »

روهی گـلـونه (٥٢٥) ب ـر دار محمد ح ـراج الدین ، ر محمد امین ، ن رجب علی ؛ ه اجرائیه پښتوټولنه ٢٦ ـ ١٢ ـ ٤٢٥ ع

سلامت کاروان به تېر کړی له رهزنه　　که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه

« ملاجمعه »

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده　　فارسی هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یې پلو دجمال وانه خیست　　پښتو لا هسې پکره پرته ده

«خوشحال خټک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده　　صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې ځیر کړ ښه پرې خبر شوم　　جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

«خوشحال خټک»

جنګ دهاتي او مزري آسان دی　　د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
چه خپله ژبه یې په خپل فرمان کړه　　هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دی

«خوشحال خټک»

که څوك نېکان دی که څوك بدان دی　　په دا دنیا کښې چه په هر شان دی
مه یې ستاینه کړه مه یې غندنه　　نه به یې څه کړي چه دخپل ځان دی

«خوشحال خټک»

د هوښیارو ژبه پټه وی په زړه کښې　　راز به نه وایی اشنا و نا آشنا ته
لږ او ډېر ویل به نکاندي بې ځایه　　هیڅ باطل ویل به نه وایی و چا ته

«خوشحال خټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو　　خبرې ښې دی ښه تر شکرو
دخوند مثال یې شکری وایم　　قدری ډېر دی تر مرغلرو

« عبدالقادر »

لکه وړدی له میدان ګوی داخه ژبه　　نه یې شي وړدای په تېره کړی شمشېر ګوره

« عبدالحمید مهمند »

که دین دنیا غواړې پرده پوشي کړه　　فتنې له خولې پاڅي نو خاموشي کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې　　بېخوده پر یوزه باده نوشي کړه

« خوشحال خټک »

سخي یې مه ګڼه چه نغن یې خوار نه وی　　باتوری مه بوله چه پرې پرهار نه وی
که دانشمند وی تفسیر په یاد لولی　　چه ډېر ویل کا دی به هوښیار نه وی

« خوشحال خټک »

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر　　دانا تل ځکه په خوله د غه خاتم زدی

« عبدالقادر خټک »

د میرو میره دخانو خانه　　د جهانبانو جان او جهانه
دارنګ لوی په هاله روزی کړی　　که وي نېکنیته او نېك زبانه

«عبدالقادر خټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری　　سیلاب تش لاس دی سیند امن پر لری
دسیلاب گیده دکانړو ډکه ده　　بحر په گیډه کښی قیمتی در لری

«عبدالقادر ختتک»

لهخامی جوش وخروش خیژی لهدیگه　　دی له خیلی پختگی پختگان چپ
په ابو بهدي ډیوه شی دمراد بله　　کهصدفغوندي پهصبر کړي دهان چپ
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی　　په گو گل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو ناري ښې نهدی پر گلو　　چه پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگان چپ
لکه کاه او کهربا چه سره بولی　　هسې پټه خوله بلل کاندي یاران چپ

«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کوه عبدالحمیده!　　کهپه ز به اویزان شي لکه صبح

«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزماني کوه عظیمه!　　مه له خولې نهځه وباسه مهځه وایه

«عبدالعظیم رانړیزی»

صافدلان له گفتگو په خفه کیږی　　شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت

«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

گوره څه بلند مقام دی د اخلاص　　چه جهان واړه غلام دی داخلاص
کهله ځمکې نه اسمان تهځاته گران دی　　د اسفر په یوه گام دی داخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غیبه　　داهمه واړه الهام دی د اخلاص
در واج د رسم عمر مدام نه وی　　لکه عمر چه مدام دی داخلاص
بی اخلاصه حلاوت د اسلام نشته　　که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص
څهعجب دی کهمستان وی تري چاپېره　　هر ساقی څخه چه جام دی د اخلاص
څه عجب دی که همای په دام ښیلی　　هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص
درحمان کلام په داسبب شیرین دی　　چهپی هر کلام کلام دی د اخلاص

« عبدالرحمان مهمند »

هرباغی بوزي بنده کاندي اخلاص　　هر بی شرم شرمنده کاندي اخلاص
آب وتاب پی عالمگیر لکه افتاب شی　　هرجبین چه تابنده کاندي اخلاص
هیڅ پروایی دحیوان په اوبو نهشی　　همه زړوی چه زنده کاندي اخلاص
هیڅ مقراض پی غوڅولی په خوله نهشی　　هرپیوند چه پائنده کاندي اخلاص
همه کار چه سحر گر کاندي پهسحر　　ترهغهپی خوچنده کاندي اخلاص
سمدلاسه زوږ کافر دیلو کا او　　واسلام ته خواهنده کا ندي اخلاص
دنفاق له اهله ځان ژغوره حمیده!　　پهلباس بهدي گنده کاندي اخلاص

« عبدالحمید مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر باغی او هر سرشوخه هر بی شرمه — همه واړه شکسته کا ندي اخلا ص
په نیکنوم به عالمګیر لکه افتاب شی — مغه ځوك چه همیشه کا ندي اخلا ص
دنفاق دشپي تیاره به رڼاورځ کا — چه سحرغوندي خنده کاندي اخلا ص
که بي پښولره راشی ملامت یم — که انسان له درنده کاندي اخلا ص

« شمس الدین کاکړ »

## ۱۱ ـ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه ـ راز یه — هوښیار په څه یی و ماته وایه !
هرچه هوښیار دی هنر یی دادی — خبره نه کا چا ته بی ځایه

« خوشحال ختك »

دباد شاهانو په راز خبرمه شه — که یې ري خبرشي ځان ته غاورمه شه
رازیی دزړه په صندوق کښی وساته — په ښکا رول یی چاته لږ برمه شه

« خوشحال ختك »

که چاته و کړي دزړه خبره — تا کښد یږي و کړي چه وبی نغره
که دی خپل ځوی وی ګمان پري مه کړه — چه به یی نه کا چا ته ظاهره

« خوشحال ختك »

که بېځایه زر کي نه وښکی آواز — نه صیا د ځنی خبرو ، نه شهباز
سکه لیه دي خبر په هسي معلوم یږی — چه خپل صوت دی هر سړ ی اړه غماز
دمنصور وحال ته ګوره حال ئي څه شو — خدای دي فاش دهیچا نه کاندي پټ راز
دریغه دریغه که وروستی عقل دومی وای — دانجام خبري نه شی په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولی نه ئی — دا دشعر دی رحمانه ! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتي دیار له حقیقته — ځوك دیار خبري کاندي واغیار ته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خاوت دښکلیو عام په وخت دخط شی — کم فوت سړی له هرچا سره راز کا

« عبدالحمید مهمند »

ځای به ځای به ستا دمال حساب کاوه شی — خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدورته

«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی — په دانائی به یی د کار اغاز وی
نادان به هیچری به داخبر نه وی — په هرهر کار به یی ښکایه راز وی

« خوشحال ختك »

زړه ښځایه مه را باسه و بازار ته — وایه نشی په کو څو دخلوت راز

«عبدالله بویلزی»

منصوز راز ظاهراوه سوئی ته وخوت — د خلا خبري کله په ملا شی ؟

« دالپوری حافظ »

۱۲– زر :

اوس پەدا دور ماولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه گوري دا گوره
څنگه څه چه د آسمان شایست په زردی
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی
زور، قوت، حرمت هوري درومی چه زروی
هرمراد چه د سړی وی په دنیا کښی

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب د مسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی قمر زر
دهندو سره روان کا اینگر زر
د پادشاه په سر څوك کښېږدی افسر زر
د طلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختك»

په خالی کیسه به نرسی تر کامه

څه حاصل که بوعلی شی په قصو !
«خوشحال ختك»

که هر څومشکل کارونه درته پیښ شی
ماچه ولیده خوازه دی په دنیا کښی

فکر مکړه چه آسمان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
«خوشحال ختك»

که پټوی په اوریخ کښې هم تر میاشتی امر تیری کا

همه عالم خبر دی چه زر شه دی له درمه
«خوشحال ختك»

زردی چه ز یرمه دننگ وشرم کا
د پر گران کارونه په زر آسان شی

صحبت د هرچا و بله گرم کا
زر په فولاد کښېږدی فولاد هم نرم کا
«خوشحال ختك»

زردي هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم مخدوم کا

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زر په سندان کښېږدی سندان هم موم کا
«خوشحال ختك»

بادشاهان شه دی په خوانو زر شندی
زر سرد ادواړه توګو د پر گران دی

ځوانان پري شه کا چه ورته سر شندی
یو یوی و شندی نه یی هر یو شندی
«خوشحال ختك»

زر په بده ورخ په کار وی
د زر دار بلا په زرو
چه سپروی گذار په سپر شی

هوښیار ځکه ساتی زر
د نادار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال ختك»

چاومانه نصیحت کړ چه زر ښه دی
چه په کور کښی خزانی لری دزرو
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نه وی
هر سړی چه په نام لوی په دولت کم وی
په امثال یی دهغی مرغی مثال کړه
کوره مادهغه ځر نگی ځواب ور کړ
ماوی مرد لره خونام بویه نادانه

تو اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس که یك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخه تار پتار لیندکر دی
په معنا بدر نگه ښځه سپین خادردی
چه سینه یی کشاده تن یی لاغر دی
پري په بوه شی هر سړی چه دا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

که هندوخته انبار انبار مهران وی ... په مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په خره باندې درزروصندق بار کړی ... خر به هیڅ پداښه نشی خر خوخر دی
چه هنر یی دلویی ویښویه لاس کښې ... دهغه وجود پارس شو واړه زر دی
«خوشحال خټک»

ځکه نوم یی دزهب وربانديې کښېږود ... چه دباد غونديې هردم کا ګذرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یی نه وی ... په ځان مې ولید خه حال یی نه وی
که باز داواړه هنر د ښکار لری ... ښکار به په خه کوی چه بال یی نه وی
«خوشحال خټک»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه ویښا کاندې چه یی وینه ... دخاوند په لاس کښې زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی ویښا یی اوری ... ددرهم خاوندان تلوی په ویاړونه
که درهم یی ځنی ورک شو شی نتلی ... پر نړی یی وی په خړو پیژندونه
که یی وای سونی (۱) وبولی خلق وایی ... داویښا ده رښتیاینه له رښتو نه
که بی وزلي ووایی رښتیا خبره ... نور خووایی دخوسونی دی تېرونه
هو، درهم ښندی هرچاله لویه برخه ... ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کېږی
ده وسله که خوك به کاندې قتالونه
«ابومحمد هاشم ابن زید السروانی البستی المتوفی ۳۰۰ھ»

چه نیستګاره شی که ځوی داحمدشاه نی ... ترتازیات په دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

❀ ❀ ❀

## ۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل قوم دبدوخیال کا ... آئینه دي دخپل ځان حال دجمال (۲) کا
پرې کوی ترخپلوپښو لاندې ښاخونه ... چه بدی دخپل عزیز په زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی ... چه یی نفس دخپل بدوته لیوال کا
چه دبل وسرو مال وته هوس کا ... ترهغه پخوا بهورك خپل سرومال کا
هم هغه به یی کښی پر بوځی دامتل دی؛ ... چه وبل وته کوهی کنی وبال کا
دهغو په خونه پیښ جنګ وقتال شی ... چه هوس دچا دجنګ و دقتال کا
چه له خپلو لاس و پښو شی بیمجاله ... له غلیم سره به جنګ په کوم مجال کا
په پردو مړانه نه کېږی بی خپلو ... له لحده دااواز جمال جلال (۲) کا
چه تر خپله حده پښه غزوی وړاندې ... زمانه به یی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجوره هیڅ اندو خپله کېږي ... بلکه خپله به پرې بایلی چه داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال · دوه نوموته اشارت دی · «خادم»

۱٤ ـ وطن :

دوطن ونې چندڼ اګر دی
که سرای ونورو وته سنګېر دی

درزي لا ګزلری مقراض سوزن لري
کوچ يې اسان دی مشکل هیڅ ندی

هغه ورځ دهجرغم لره سرا شوم
ماهله ماتم دځان و ګړ یه وینو
اوس په خه دوطن کاڼي بوټي ژاړم
بوناوك مي پهدل لكراوو ړله کوره
په محنت مي پورباض جوړ کړ پهدهر
شبن فلك په خړ ړاسورشو لههوسه
یوپاړو په د کن نشبه چهمی دم کا

خاوري يې واړه مښکې و عنبر دی
کاڼي يې ماڼه واړه سره زره دی
« خوشحال ختك »

پوجهدر ګوټي خو شحال خیرن لري
غم دیارا نو درد د وطن لري
« خو شحال ختك »

چه له یاره په ژړا ژړاجدا شوم
چه اتلك وتهمې شاشو په ژړاشوم
درخصت سلام مي کړی تري جدا شوم
زاروجارمي دباغ ونه کړ خطا شوم
لامی ګل بوی کړی نه مخني سواشوم
چههوړی جبل په مخزه ورته شاشوم
ګرفتار په کنج و کاو داژ دهاشوم
« اشرف خان هجری »

## د وطن په یاد

ستا دعشق له وینوډك شوځیګرونه
تاته را شمه زړګی زماقارغ شي
که هرخومي ددنيا ملکونه ډیرشي
د ډیلی تخت هیروم په چه راياد کړم
در قيب دژوند متاع به تار پتار کړي
د«فرید»د«حمید»(۱) دور به بیاراشي
که تمامه دنیایوخوا ته بل خوایي

خوار غریب او بینوا وای
وا ته غواړ مه له هنده
خو ژوندی یمه تر مرګه
مېشته خوښ یم په وطن کښې
نه دي هند شي نه دي نوم شي
چېر ها ر کښی کلا شیخ وای

بی وطنه نهاپروت يم په غربت کښی
دهواداشنا په ستر ګو لیده نشي
قاصدان له روهه رانغله مدت شو

ستا په لاره کښې بائلي ځلمي سرونه
بېي له تامي اندیښني دزړه مارونه
زماهېر نشي داستا ښکلي باغو نه
زه د خپلي پښتو نخوا دغرو سرو نه
چه په نورو پښتنا نه کا ګذارونه
چهزه و کاندم په هرلوری تاختو نه
زما خوښ دی ستاخالي تش د ګرونه
(احمد شاه بابا)

خو وطنه ! ستا په خوا وای
چه وطن بسر خه زما وای
هم ماغه آب و هوا وای
نه چه هند واړه زما وای
هما غه بیډ بیډ یا وای
رزق الله او مشغو لا وای
« خواجه رزق الله »

نن له ماسره همدم د صنم غم دی
که په خوب راته حاضر شي بس کرم دی
سلام بادرا ر سوی منت يي تم دی
« اشرف خان هجری »

---

(۱) فرید : شیرشاه سوری . حمید : سلطان حمید لودين

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتني جونه دي زلفي بادنه نیسي

څو به فخر د کشمیر په دوشالو کړي

نسیمه ورشه د «سرای» سواد ته
سلام م و کړه په دواړه لاسه

که گذر به خیر ابادو کړي نسیمه !
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه
ابا سیند وته ناره و کړه په زوره
گوندي وي چه پیامي ستاسي جام روزي شي
چه سري اوبه دغره نشته په هند کښي
خدایه زړه مي په وصال دهغه خوښ کړي
همیشه به په هند نه اوسي خوشحاله

نورجهان سفر شو باندي سرای دارالقرار دی

دخوشحال دزړه خوښي نشي بي سرایه

دهواد یاران مي هر زمان یادیږي

ښه په هند کښي چنبا گل دی
دسرای قدر نور چا نه زده

درزی لا گزلري بیاني سوزن لری
کوچ يي آسان دی مشکل هیڅ ندی

۱۵ ـ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده
چه يي اوس به تولولو نه مرېږي

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
نیکانو سره زیست روزگار په مهر و محبت کړه

په قوت به د اسلام کړي

چه شمال يي بوي راوړي په رنتمبور(۱) کښي
« اشرف خان هجري »
څو به خیال کړي په اطلسو دفرنگ
« پیرمحمد کاکړ »
له هغه په افضل آباد ته
د رود په وارو گل و شمشاد ته
« کاظم خان شیدا »
یادي کیږي شي د «سرای» دسیند په سیمه
ور سره زما د لوري څو تسلیمه
و لنډي ته و وینا و وایه حلیمه !
په گنگا چمنا به نه وو له قدیمه
تري توبه که واړه دك وي له نعیمه
داچه اوس ورځني لري دی دوه نیمه
عاقبت به عاصي ووزی له جحیمه
« خوشحال ختك »
کله به خوشحال دارالقرار لره ورد رومي
« خوشحال ختك »
خپل وطن يي په هر چا باندي کشمیر کړ
« خوشحال ختك »
چه ني مخ په خوب کي وونم ویادم
«خوشحال ختك»
تر دا گل د وطن خار ښه
په خوشحال دی ترفر خار ښه
« خوشحال ختك »
یو جهدر گوتي خوشحال خبرن لري
غم دیارانو درد دوطن لري
« خوشحال ختك »

هرچه نه پسندي په ځان په چا مه پسنده
همدا خپل دولت بس و کایه تا شنده
« عبدالقادر ختك »
همدا ده که ته يي گوري په صحي مسلماني
بدانو سره زیست روزگار هم بويه لساني
«خوشحال ختك»
د کفار انکار غارت
« دولت لواني »

---

( ۱ ) رنتمبور دیو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

دمسلم نښانه داده که یی و پښي

پسه مسلمو کښی خاصه مسلم هغه دی

چه اول په شریعت دي استوار شی
« مرزا خان انصاری »

چه یی وشلاوه زنار ددی د نیا
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۶ - آزادی :

وهر چاوته چه و گورم فریاد کا!
پهجهان بههیڅوك نهوی چه آزادوی
عقل وهوښ یی وړی وته پیدا کړ

چهسري شړومبی یی چښم پهوخت داوړی

دحاتم دسخاوت خبري مه کړه

کهیی تهپه منت مومی وایی مخلمه

دمغل منصب می پرښودهسي خوښ یم
دانا دره عقیده لکه زما ده !
دمغل وتهبههسي کار ښکاره کړم
آزادی تر باد شاهی لاتیري کا

چهنوکری کاڅوك ډیر گنده کا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته

طمع بلاده اصیل بنده کا !
مادیر لیدلی دی چهطمع نه لري

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم

که دعقل څه اثر لري و سترته
پهنظر دهغو خاوره سره زر کېږی
بی منته جام دزهرو ښکلی ښه دی
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
دی فلك وچاته هیڅ بخښلی نه دی
که له خدایه دوي خلقووته مخ شی
همیشه به در په در گرزی رټلی
ددي سست بدن منت پهرحمان باندي

یوزه نهیم د جهان دی سیني خوږي
ځنې عشق اندوه بنده کړه ځني لوږي
داچیچل دادل دیرانگ دی یادیږي
«خوشحال ختك»
بادشاهی داورنگ زیب زماه غړکه
« خوشحال ختك »
لایه دا کښي هم د طمع نښا نه ده
« خوشحال ختك »
کهدچاپهباغ کښي بوټی د کیمیاوی
« خوشحال ختك »
لکهخلاص داوپه بنده بند یوان شی
لاعجب کهبل پیدا هسي افغان شی
چهراضی راځني روح دفریدخان شی
چهبل د حکم لاندی شی زندان شی
« خوشحال ختك »
سري ازاد وی خپل ځان بنده کا
چهڅوك په کور کښي خپله دنده کا
« خوشحال ختك »
ښه ښه سړی وی دائی گنده کا
په بادشاهانو پوري خنده کا
«خوشحال ختك»
کهخزان را باندي را شی که بهار
«رحمان بابا »
لاس پهسرمشه دهر گیدی ودرته
هرچه نه لری نظر و سیم و زرته
نه هغه چه منت بارشی و کوثرته
وایه حال د زمانې وبرا درته
چه یی نه دی را پیرودی ځنی پیرته
له فردوسه بهدي مخ شی و سقرته
داستو گڼې ځای بهبیانه مومی چرته
چهله خپله دره تلی نه شی بل درته
«عبدالرحمن مهمند»

روغی کلونه ( ۵۲۵ ) : ب سردار محمد ح ... محمد امین ن رجب علی ه : اجرائیه پښتو ټولنه لیلا ۱۹ - ۱ - ۳٦ ع

زندګي که خوك پوهېږي حضور ده دي    آینده و رفته کله دچا یاد وي
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښي کړم داحق سري دمدحې    نه مې ږده مومي اندوه دده له ذمه
دزلفېږ و تور حلقو دې عذار و یږم    که نسرین دي دي په زلفو کښ صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شاکړه وښا دپوو ته ښاد شوم    چې د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم کړزم    راضي من چه دازل دویش په داد شوم
چه مې طمع ددنیا ور ځنې پرې کړه    هغه کس که کیکاؤس زه کیقباد شوم
ځان بازبند ولي کاروندیز پېږد کا    له شېخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مې بیا په کښ بندي مکړه ترمرګه    احتیاج عظیم زندان وه ترې آزاد شوم
هم یې ځان له غمه خلاص کړهم نیکنام شو    د پرمین په وروستني ضرب دفرهاد شوم
بادي بوي عبدالقا دره سحر راوړ    شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقادر خټك »

چه خوښ له کمه دلګیر له خاره دي    عشق له دو سینه بې اعتباره دي
نه شکایت کړم لچا ، نه شکر    در دمي ا ه یاره در ہمان له یاره دي
« عبدالقادر خټك »

له بېخونده آزا دي شوسه دسر وي    د ګلني پخير پخو بنده بندي بیا
« عبدالحمید مهمند »

وزي تېږي پروت بخېل پوز کي ښه ني .    نه په تخت دپاسه ناست دبل کره
دمنت پولاو دې زهرشه ! کې مومي :    دمحنت سوي مکړك له سا کت سره
« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته به سرکوز د همت نه کا    چه په داد ددهر پوه آزاده مرد وي
« اشرف خان هجري »

دافقير دولت په مرګه هسې هوس کا    لکه ستړي مسافر وخپل وطن ته
زینهار حلت په هسې ساعت ور کړه    چه دنیا وربانې نه وي وکفن ته
« دولت لواني »

آزادي او کارو بار دي سره اېري    لاس له کار وباره وباسه که کار کړي
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزا ده وي ترې قربان شه    باد شاهان دشام دروم که دختن وي
ماتول دبت آسان دي مرد هغه دي .    چه مشغول دخپل وجود په شکستن وي
« عبدالقادر خټك »

۱۷ _ انسانیت :

پوي اصل سره دوه او یامند هبه    خدایه څه بنی آدم فريق فرېښتو
« خوشحال خټك »

خلق نادیده دي په خبر و بسي تللي
چار تر عارفانو چه په حال دي پوهیدلي
دوه او یا مذهبه پکښې هومره قیل وقال
واړه سر هوا په خپل مطلب پسې دي تللي
د پردي کتابو نه مشتمل په دېرش حرفو ه
کل واړه که ګوري له الفه دي تلوولي
سل بهي سل سیبه چه یې مات په یوه ځای کړي
سل به بلل نه شي سره یو دي مالیدلي
واړه نور ئې هر دي هم دننه هم دباندي
هر چېرته دا نور دي په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال ختک یم د رندانو په مذهب کښې
نور ویل مې نه زده مختصر مې دي ویلي
« خوشحال ختک »

ب : بابېزه خویونه

١ ـ بدعادات :

عادت لا پرشي عادت له سري نه
خدای دي نه کاندي په بد و چار عادت خوك
« عبدالرحمان مهمند »

همیشه وي نرم چوب غذا د کرم
شیدا مشه مرد خالي له سیاسته
« کاظم خان شیدا »

تبرګي به سوزي دخس له نامردانو
که همه لکه ایرې آتش نسب وي
« کاظم خان شیدا »

٢ ـ بي پته خویونه :

یو چه ډېر خوري سوګندونه
بل چه ډېر کاندي پورونه
آشنائي ور سره کمږه
دا بې پته دي خویونه
« خوشحال ختک »

٣ ـ کوژتیا :

تر هر څه بد کږئي خطر دی !
کږی به نه کا چه دانشور دی
الف چه سم شي کږی یې نشته
لکه تر نورو حرو فو بر دی
« عبدالقادر ختک »

٤ ـ بدنیتي :

چه د بل په نامرادي کښې مراد غواړي
دا سبب ګڼه د خپلې نامرادي دی
« عبدالحمید مهمند »

٥ ـ بدګوئي :

چواړي د حلال خور په نامه بولي
له ښو خلقو بد ګوئي نده ممکنه
ته چه بد له خلقو وائي زه و برېږم
چېرې ې خپله بدي نکړي معینه
له هغو نه به روښې ستا عیب څرګند شي
چه هر چا و ته دې کړېده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »

مه پر چا غیبت تهمت وا یه مه نښله
مه د بد نامه په هیڅ بنی آدم زده
« دولت لواني »

٦ ــ بېکاري :

د جملـه بـلاؤ سـرتـن اسـانـي ده
فـراغت د بېغمي پـه ملـت کښ شتـه

لټ غوبی شی خرخاوه پـه قصا ! نو
خـه امیـد دبېـغمی کـړی ظالمانو !
« عبدالحـمید مهمند »

٧ ــ ډېراحتیـاط :

کل وسواس لـه احتیـاطه پیـدا کېږی

زه لـه ډېـري هوښياری نـه لېـونی شوم
« عبـدالرحمـان مهمند »

٨ ــ تذبذب :

کـمـال د کـفر تـر نـاقص دین ښه دی
چـه کـلـه د اشـی کـمـه هغـه شـی

یادرست گـمان ښه دی یادرست یقین ښه دی
دا نـا تـه کـلـه مـذ بـذ بین ښـه دی
« خوشحـال خټك »

٩ ــ شخصیات :

دزړه غـلا پـه زړه کـښ غـــم د ه
هـر سـر دار چـه پـه زړه غـل شـی

لا پـه تـېـر ه د سـر د ا ر
ځـان رسـوا کـا خـلـق خـو ا ر
« خوشحـال خټك »

١٠ ــ ظـلم :

بازچه‌ینی دځیګر خوری مرګ یی زروی
کـه تر خـه دی هـم شراب دقهر نغره

لـه دې وېنو ځان ساته زما ځیګره !
ظـلم وجورپـه چا مـکړه ځیـګر وره
« عبـدالقـادر خـټك »

چـه بیشوشی ډېره ګـیره بسې نـربـلی
ماشی مړ کـاندي هاتی چه‌سره تول شی
لنړي لنړي او به تولي شی ملـک وران کا

ډېر پـه ظـلم کښ څوك مه کوه ګـبر ګوره
پـه یوه وجود ـې کـې مه ګـړه ډېر ګوره
په لـږ جبر چېري ـه شي دلـېر ګوره
« عبـدالحمید مهمند »

باز کرګس شاهین جـوړه تری په‌هوا شول
بلبلان طو طیان د فـکر په تـال ځانګی

چه ثابت د عند لیب شو په ګلعـز ار حق
خدای کړ پوره ا دي باغه دمالیار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دې نـکـا چاته وازی دآزارخولی
په ګړ کـښ بخته برج هـسی میدان کړی
د یوې خـو لـې لـه آراره وو یـر پـښېږه
چه پـسي راشـی د مظلـوم د آه سیلـی
چه قـوصر د آه سر دور بـانـدی لګـی
چه اثـر د مـسیـحا لـر ی پـدم کـښ
و ر ځ بـه شـی د غم شپـه پـېغـه خـلقـو

دغه خولی‌ده په آزار کښ دښـا مار خولي
یا تو بو بدی خـولی دی یـا دو یـاړ خولي
که پـمر دي دعـا کـا نـه دې هزار خولي
کـالـه خـاو رو ابرو ډکـی د مدار خولي
ور بـه نشی د هغه چـا د پـر هـا ر خولي
خوز و ی دي هغه خلـق پـګ فتـار خولي
چه پیـاب بی بد دعـا که هر سحار خولي
« عبدالحمید مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه داغی یی سپین بشر په اور د ظلم
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
چه نهال د ظلم کېږدی خپنی لاړ شی
آزادی که دې پکار ده شمس الدینه !

هسې خوښ د ظالمی په کار و لاړ دی

ر سید لی تر مطلبه به خود نه یی

۱۱ قهر :
ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه

همیشه غوټه جبین یی ړك له کینه

د جهان کینی غصي واړه تر شا کا
دا پیدا چه خو د بینی ور ځ خه نشته
په کینه په حسد هیڅ د چا و نشی

۱۲ ــ تعجیل :
دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا

په هنر هنر خبري کړه دلبره

۱۳ ــ حرص :
په غم د نورو و غم تـه ساز مه شي
سړی په طمعه د بل بنده شی

۱٤ ــ کبر غرور :
دغه زور به چلوي تر کو مه پوري
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را یی

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
سبره ! هیڅ به تېتو و نو لو بی مکړه

په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
تریخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدین کاکړ »
نه به وا یی مر ګ یی نشته تل به ژوی
« خوشحال خټك »
چه خوړی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله یوبلزی »

جوړ کارونه خشموران کاندي تلوارهم
« مرزا حنان »
له خپلو واو کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »
که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
د جهان ننداري ځکه دوه ایمه کا
هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال خټك »

په تعجیل سره نادان کانديـم کار کج
« عبدالقادر خټك »
تېزی مه کوه په هیڅ کار کښې د سره
« عبدالله یوبزی »

سیك و عالم نه به خیل آو از مه شي
د عا به دا کرم اخته په آز مه شي
« خوشحال خټك »

چه پوازې دي په ځان تمام جهان خوړ
ما دا ستا دیر پواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »
په پلیتو اوبو نه کېږی او د س
ستا به هم دغه قامت کاندي روز ګار کج
« عبدالقادر خټك »

١٥ ــ بېوفائی :

چه یې نه وینې وفا په رنګ وبوی کښې
زر که څڅکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه
ته به و کا ژه له یاره د بېوفا
« مرزا حنان »

که یې اوی دزړه په وینو لکه ګل کړي
هم هغه به یې زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر خټك »

١٦ ــ طمع :

څوك چه طمع له چا کا په حقیقت کښې
که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال خټك »

نه دی نفس لره جلب د ور کړو لو
نور قیدونه و اړه سهل دی حمیده !
امو خته در باندي غل او کا سیر مشه
خو به غاړه دي د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتې
چه په خوله کاندي خوږه حلوا د طمع
« عبدالحمیدمهمند »

سړی توب به دي سپېتوب کاندي دا طمع
هسې چارې به حرص در باندي و کا
عزت و سا ته په صبر که دا نا یسې
چه په هیچا شوې نه وی بیا به وا یسې
« عبدالحمید مهمند »

کهدي زړه وي چه بیاي شي طمعه پرېږده !
څو دي طمعه چاته شته توانګر نه یې
« عبدالقادر خټك »

که یاس له حقه تحقیق حرام دی
اصیل بنده کا خلاص شو ی بند کا
یاس له مخلوقه د حق انعام دی
طمعه له خلقو د خلقو دام دی
« عبدالقادر خټك »

شرموی هر یو سړی د د نیا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دولتمن دی
د هغه د شرم بو زه په مخ نه وی
لکه څوك لوبی په خپله حیا کا ندي
لکه یو سپی چه‌هیڅوک ختی ال هغسې
د هغو د عزت پښه د ه بښو لږ لد اسې
تل دخواست لاس به‌یې نیولی دی کوڅه کښې
د حاتم د سخاوت خبرې مه مه کړه
دسپي توب نامه حاصل کا په دا طمع
خاخکی ګوره نه کوی له دریا طمع
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
هسې ما و ته ښکار پېښری دا ستا طمع
هسې ده د یو له بل نا صلا طمع
چه به دا زېره له چا کا ندي بیا طمع
محمدي چه څوك کا بل ته پیدا طمع
لا پیدا کښې هم د طمعې نشانې ده
« خوشحال خټك »

١٧ ــ ریا :

در یا عمل مې طوق شو را تر غاړه
لکه خپور شي به څیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ ــ بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا

تور مخونه به دوزخ ته قاضیان د رومی
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی
« مطیع الله پیرخیل »

## ج: نصایح

دا هغه نا پوهی پیدا کیږی
پیر څو ، ښه سلوك ، نمانځنه ، او بل عدل
کبر چن حریص بی زړه چه دروغ وابی
که وعده یی قیامت وی د غو ښتنې
که طالع یی ددولت په شربت ډك کا

چه دخلقو نیکخواهی اری په زړه کښې
که بی غوږ د دانشمند په صیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی
د مردانو په معراج به ور تلی نشی
مختورن د دوادو کونو ندی څه دی
نیکبختان به اندیښنه کاندی د نیکو
په هغه هنر کښې ټینګیګ او سه خوشحاله

په دوستانو تلطف کړه څو په تاشی
د نمانځه تر قضا ګرانه دا قضا ده
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېني
چه په تشه تواضع کښې ګټه کیږی
که حاتم غواندي درم کړي د مهرانو
څو بدانو سره بدشی هومره ښه دی
که دي سرځی کډي مال ځی کډي نورڅه
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شی مه یی آخله
که آسمان دي درمري په خوله کښې ورکا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې

خپل استاد و ماته ووي څو پندونه
وي چه هره بدی کړه هغه بد مکړه
که دي زړه وی چه بدنه موي له چا نه

خر خشي دعوي نا ساري شر و شور
کډي دا خوږو نه شته څه غواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلو ر
دهوښیار سړی بهانه وی په کار پور
بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور
«خوشحال خټك»

مبارك شه بادشاهی اری په زړه کښې
څه عجبه آګاهی اری په زړه کښې
هر سړی چه تباهی اری په زړه کښې
که دسعی کوتاهی اری په زړه کښې
چه هر چاسره سپاهی اری په زړه کښې
ګمراهان به ګمراهی اری په زړه کښې
هر هنر چه سپاهی اری په زړه کښې
«خوشحال خټك»

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د خلور و مصلحت
دیرینه خلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دډك طباخ دست
دیوې دمړی په چا مه زده منت
ولي عفوه کرم ډېر اری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی را حت
که دمرګی وته نژدي کاندي زحمت
دزمری په خوله کښې مه پرېږده هډ
چه یادیږی د سړی د خوی خصلت
«خوشحال خټك»

هر یو پندی مرغلري دی لا لونه !
چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
اول ته پرهیز ده د بدو خصلتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهوت په غوښته مه ځه شهوت اور دی
نه کینه، رخه، حسد له هیڅا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
د هر چا سره نری ملایمت کړه!
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخونی هر ګوره ښه ده نه دا هو مره
هغه کار چه په آرمی تر سره کښېږی!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
د هغو په مرګ ثواب ګټلی بویه
که دښمن دي د پر زبون ته ځني ډار کړه
د دښمن په تملق غلطی مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پرېکا
چه دي لاس په دښمن برشی پرې یې منزده
په خپلواکو باندې هومره خشم مه کړه!
د پاد شاه په مهر مینه غلط مه شه!
پاد شاهان چه په چا مخ کا نبیدی،
په هغې معشوقې څه بازر د کړو دی
د پیلو پانوې خوره نه هغه پاستی
د بد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه!
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښې چه در پېښ شی بېړه مکړه
په رښتیا که په دروغوی سوګند مه خوره
د حرص سترګې مړې په قناعت کړه
که هر څو دي علم ډېر چه عمل نه کړي
د ښه دین د پاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښې که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړې قباحت دی
عاقبت به ملګیری در ځني پرېکا
که دې ورورو ی که دې ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران نه یې حرمت کړه
په هغه کور کښې چه ښځه چرګه بانګ کړی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډك شی و د ښمن ته

پیدا اور د ډېرو سوی دی کورونه
داژل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښې څه فایده د کوم سودونه
ټل جهان و چاته نه پریږدی مالونه
ګڼدي وی چه پدا خپل کړي د چاږدونه
د بخچی د ننه ښه دی خپل رختونه
چه په باغ کښې دي خربوزی وهی خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنګونه
چه اری د بدو فعل بد خو یونه!
چه پې سوځی له شامته غاړې غرونه
په یوه شجري و سوځی ښا رونه
درستم غوندي هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ور مونه
دما رانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځنی تښتی په مدکونه!
زورور په لږ ګناه و هی سرونه!
و سپیندو نو ته تړل نه شی بندونه!
چه په هر لوری یاران لری زر ګونه
چه بی خوري د نو کری په خوشرطونه
غلیمان ور لره بس دی خپل خو یونه
د ګډ پر؛ و نه خوازه لری ګلونه
په تلوار، سره ورانېږی جوړ کارونه
منافق وی چه ډېر ډېر خوری سو ګندونه
چه په کور کښې دي انبار شی نعمتونه
نه حمار پې په تنا انیلی کتابونه
نه پیدا چه پرې لوټې پردی کورونه
چه و سختی و ته و نیسی لاسونه
د بدانو خو هم تور ښه وی مخونه
چه په لارې ترنا تېر دروهی ستاملونه
په څېړوی کاږه کړه ور مېږو نه
د هغو د ناستی تښته په ګړو هونه!
بیا هغه چه دي په ځای وی لکه ترونه
د هغو خونو نه ځی بر کټونه
مه عمل کوه په رښتیا دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرڅونه!
لږ و ډېر په زبان مه راوړه غمونه

په هر کار پسې لاس پروي په ځواني کښې
که طاعت که عبادت که نور کارونه

په ځواني کښې چه د کار نه لاسه ووزي
په پیری به دی ونه رسي لاسونه

همیشه او سه خو له پټه لکه ناوي
چه ضرور شي هاله و کړه دوه حرفونه

تر هغه به نه معقول په جهان څوک وي
چه همیش په خندا سپین اری غاښونه

که خبره که خندا کړي چګې چګې !
هره چار تر حساب مه کوه بیرونه

که دي زړه وی چه پټ عیب دي ښکاره نه شي
چا ته مه شماره د خلقو پټ عیبونه

که له تا نه په قوت د مټو زیات وي
له هغه سره حجت مه کړه بحثونه

چه تا ویني دغې خبري لاف کړه
او که نه په دروغ مه وهه لافونه

چه د ښمنو کښې د جنګو خرخشې وي
تا به بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه

که دي واوریدل چه پیا وپله روغ شول
نور به خپله وسله ووهه لاسونه

چه د ښځو نه بتر دی هغه څوک دی !
چه د ښځو سره کا مصلحتونه !

خدای هغه په دواړه کونه دی نما ښکلی
چه په ورځ کا عدل وداد په شپه نمځونه

چه د زړه په تامین دغو نازوله
تل نیاز منو سره وړی دی نیاز و نه

داصیل ښېوه خپل اصل نه ابداس دی
په زربافو کښې پادم وی پامړ وه نه

« خوشحال خټک »

په پیری کښې چه هوس دی دناب کړي
بیهوده ګمان په صبح د مهتاب کړي

داسته ګناه کوي توبه و کاږي
لکه بت هسې په غټو ستر ګو خواب کړي

علم و کړي بې عمل ورباندې نه کړي
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي

په شپه پروت بی دمغان په میخانه کښې
او د ورځې مخ په لوری دمحراب کړي

له خالقه دي نه شرم نه حجاب وي
له رحمان ګوښه ونیسي حجاب کړي

« عبدالرحمان مهمند »

کرد ګلو کړه چه سیمه د ګلزار شي
اغزي مه کره په پښو کښې به دي لار شي

ته چه بل په غشو ولې هسې بوه شه
چه هم داغشی به ستا په لور ګذار شي

کوهی مه کنه د بل سړی په لار کښې
چیري ستا به د کوهي په غاړه لار شي

ته چه هر چاته بخوار و ستر ګو ګوري
لاړه مبی به ستا صورت ترخاور وخوار شي

آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی
هر چه بل آزار وی هغه آزار شي

که ته نه کوې نظر د چا و عیب ته
هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شي

دمتان کر په لوړه مځکه باندې مه کا
سر کوزی کوه چه پټ دي مرغزار شي

دمات لوښی او از کله ثابت خیژي
د هر چا عمل خرګند په خپل ګفتار شي

واذا حکمتم بین الناس راشه واوره
حق باطل سره جدا کړه مه ئې نغاړه

مدا ماچه لکه باز غو ښې دقام خوري
عاقبت به شي بندي په پښو په غړه

جوړ وي نوی قصر ونه خبر نه ئې
تن صبا دی ابادی و پنم ویجاړه

فکر و کړه وخت کو تاه دی وپه لو یږي
د دنیا پر لانده پانړ باندې ولاړه !

« مرزا حنان »

(c) ketabton.com: The Digital Library



تن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا      نا گهانه به دا صبح شب تار شی
لږه نې مه گڼه هر څو که گناه لږ وی      چه لږ لږ و سره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا ته دی ته پښه ورسره و کړه      هر یو نخل چه میوه لری سنگسار شی
تل و سره و ته آزار د بدو رسی      هر چنچی و نرم چوب و ته دو خار شی
هغه زده به له طوفانه بیه امان شی      چه کشتی غوندی د خلقو بار بردار شی
خدای دې بدله لاسه نه کا او که وی هم      در حمان دې له کل بد و استغفار شی

« عبدا لرحمن مهمند »

اې مدام د بل په کمه روا دار ه      نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم مږد ه پر عاجز میږی په ظلم      نه چه دغه پشه دی و مبتلی له مار ه
هر چه وی صباح بې راوی لږ که دیروی      دا چه نن یې پستم اخلی له خوار ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدای شانی      چه رانده پدا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرز ندې بسخته!      که دې مال که دی فرزند دی نا یکار ه
دا جل صیا د طلب د استاد روح کا      ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښی      دی بهتر له هغه گنجه بې شمار ه

« مرزا حنان »

دیر به ستا په سبب خواب دراحت و کا      که دمهد په شان ورك دخان ارام کړی

« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه      اسنا نه نده د سر بند نه
مصلحت مه پر ږده د خپله لاسه      هم به خپل راز لری د زړه د ننه

« خو شحال ختك »

همیشه وائي چه خدای مې پیښ ندلې په یکی دی      که دی خدای وی پیښ ندلی مینه مکړه په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه گل شی      زمانه به دی خپره په یو څو ورځې کا زائله

« خو شحال ختك »

د چا وخوان ته خالی کتل مکړه      که تل دی خوان خو ری منت په بل مکړه
چه پری باور ځی هسی ویل مکړه      چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه

( خوشحال ختك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا      یا طبیب و تا ته بد ي کا شکر ي
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي      له شکرو به هم گرزي اري اري
په قران کښې چه شراب دی منع شوی      ته یې واې لکه یې د مور نغري!

« خوشحال ختك »

عاقبت به یې زده ترلاسه کړې حنانه!      لکه زلفې د نگار تواضع خوی کړه

« مرزا حنان »

لکه څنګه زغوري برېښنا له تېرو تورو — هسې خپل سر له ښېرو دسحر ژغوره!

«عبدالحمید مهمند»

چه ظاهر غوړوي په باطن سپوروي — په ژبه خوږوي په زړه کښې شوروي

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا — سپین زر که سپین وي اثر یې توروي

«عبدالقادر خټک»

له همه واړه عالمه صلح کل شه — وښوېدو خوشبویي ور ځکه ګل شه

تعلق په تېرېږ و نې هوس مه کړه — په بهار کښې په زارو لکه بلبل شه

«عبدالقادر خټک»

څوك چه نرم ویل کا عمل یې ګوره — تېګان دم په خوله ویل کا نرم نرم

«خوشحال خټک»

ښېتن مومل دی — اوس مویر غل دی — هواد د بل دی

غازیانو ګوری، — ښېتن مومل دی

توري تېري کړی، — د ښېن مو پرېکړی، — منګلی سري کړی،

خله بیه تښتو — ښېتن مومل دی

که ټینګه کړو زړونه — بیا بېری یو نه — چه زمری یو نه

اسلام راځخه دی — ښېتن مومل دی

غازیانو را شی، — تول شا ؤ خوا شی — دشهاب په ملا شی،

دښېن موغوځ کی، — ښېتن مومل دی

«شیخ ملکیار فرشېن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب‌الدین غوری سره ؤ، د غازیانو د تودولو دپاره درجزبه رقم ویلی دی.»

•••◆◆◆•••

# دريم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱ـ ميړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار — خو پيدا نکړي کردار
چه دي ونيکنځي مرد نه يې — که له تا نه وي په دار
چه څه دي خو انتقام دى — د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځاى لرينه — چه نه عيب وي نه يې عار
چه عزت ورځخه نه وي — هغه مرد نه وي پکار
هم مهره لرى هم زهر — ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي — تر هغو ځوانانو ځار
مرد به غم دخپل ننګ کا — نه د زر نه د دينار
مرد به غم کا دخپل شرم — د عزت د اعتبار
نا مرد فخر په نسبت کا — مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبري گوره — لعل و در پيي په تار

«خوشحال خټک»

يا د سپينې توري مرد شه يا عاشق شه — چه يا د پېغلې په ټند لو په سندرو
د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي — چه بر ښنا د سپينو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد به دا تفاوت وشو — په نامرد، شرم آسانږي په مرد گران دي
مست هاتيان خونى زمرى توري وښکلي — که د سروبره دي نه شي کار آسان دي
کاشکې ته به دا دنيا هميشه پايې — په احتياط احتياط کښ د هر خلق طوفان دي
که د ځان که د ايمان بدخوامي د پردي — ما په خداى باندي سپارلي ځان ايمان دي
ننګيالي چه د اخلاص توره په لاس کا — د هر لښکري د همت پوري کاروان دي
په ښادي سره شريک دي اولسونه — غم پوازى د خوشحال خټك په ځان دي

«خوشحال خټک»

مور دي نه شي باندي پوره — چه مېړو نه د کار زار دي
خوك چه شته تر شر فه غر به — د تورز نو خدمتگار دى

«خوشحال خټک»

د ر ست پښتون تر قند هاره تر اټکه — سره يو د ننګ په کار پټ و آشکار
په داهسي وخت، چه وخت د نام وننګ دى — دا بى ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا نايوه دى — بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دي — که په پوهه پښتانه واى څه هوښيار!

«خوشحال خټک»

«خوشحال خټک»

ميړنو له تښتته شرم دی يونسه ! د نصيب له پېښې ماڼوه جلب

« يونس »

څه سړی څه يی تدبير ! هم هغه شی چه تقدير

که جهان شی تير توره ستا په مرګ شی خلق خير

بی تقدير مره به و نه مری نه په توره نه په تير

بی اجله مرګی نشته تيغ و هغه مکر و تقصير

لکه کار د مړنی دی هسی کار نه دی د پير

د غازيانو شهيدانو پر وا نشته د سعير

کل ګټنه ده د توری که کابل دی که کشمير

مړنی دی چه يا د پښتو ری په سند ر و هم په و ير

چه په دروغ د توری لاف کا د هغو نه يم د لګير

توره نجره د خوشحال ده کال په کال خلق خبير

تر او و پېړيو پوری وايده مړه په تيغ و تير

دا د ځان ستاينه نه ده حقيقت وايم په ځير

« خوشحال خټک »

چه په توره يی ځواب ورکړی مرديدده که وجوددی ځوک آزار کاندی په چوب

« خوشحال خټک »

چه مين په وسله نه وی مرد دی نه وائی خپل ځان ته

لاس دی سره کا ستر کي توری ځان دی و جوړ وی ځوان ته

« خوشحال خټک »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای

مجلس د خاصو کتاب په مينځکښ نقل د تورو و خت د شباب وای

« خوشحال خټک »

د زنانو په حساب دی مردان مشه چه له زيبه له زينته هم آغوش وی

شړی ور پښتون به سل په د که يوسی کشميری چه بغر ګک شالونه يې په دوش وی

« خوشحال خټک »

د بلا ته د اختيار توره په لاس کښې وقضا وته تسليم په شان دمړه يم

تند رهم زماله ذاته نه پيدا دی به سپين زړه که د باران سپينې اوبه يم

« خوشحال خټک »

چه جنګيالی وی دولت هغه مومی چه ننګيالی وی عزت هغه مومی

دا د واړه تو کسی سره تړلی دی خوك چه محنت کا راحت هغه مومی

« خوشحال خټک »

چه ځان غواص کا ګوهر هغه مومی چه بې ننګی واخلی دلبر هغه مومی

دا کا رمې خوځله به ځان را غلی له سر چه تېر شی ظفر هغه مومی

« خوشحال خټک »

ستار قیب کله زما په مخ را تلای شی
دمړو و جنګ ته نه د رومی عو رتي
« مرزا حنان »

چه نری شی میاشت آخره شپه را خیژی
پتوه ځان له عالمه په افلا س کښی
ښي ورښمني جامی خوی دار تیښو دی
دمېره مړانه نه ځی په کرباس کښي
له یارا نو اخلا ص تلسلی دی حنا نه !
ګذران د زمانی شو په لباس کښي
«میرزا حنان»

د میدا ن په ورځ چه تښته کا له جنګه
یا تي هیڅ نشی با قی له نا م و ننګه
له میدا نه تښته کار دی دزنانو
مر د به نه تښتی له غشی له تـفنګه
چه د تورو په بر ښنا یی وار خطا شی
مور یی مه وای په هغه غولا تی انګه
د ضرور په ورځ به تښته له ګیدړ کا
چه همیش کاندی خوښی له نای وچنګه
د عزت صدقه سر د سر د نیا ده .
مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه
«یونس»

## ملي وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی دی
ښه هغه چه یی ښیښه د زړه صفا ده
چه عمل یې د نیکۍ وی مېر ه هغه
که اغوستې یی ګډ له د خامتا ده
«احمد شا ه بابا»

۲ ــ ننګ او ناموس :

چه ننګ کا ننګیالی دی ورته ایښی دی دوه کاره
یا کام د ننګ حاصل کا یا د دوی مینه سپېرېږی
«خوشحال خټك»

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحا له !
که یی نر وینی په ستر ګو هم ما ده دی
«خوشحال خټك»

کاشکي ځوان دی پښتانه په ننګ کښې مړوی
نه چه ګور له روان شو م له تلتکه
چه دقام به ننګ کښې و مړ هغه ځو یه
په عالم کښې دخیل پلار غاړه کا لکه
«خوشحال خټك»

څه یو ازې ننګ به ما را غلی نه دی
پښتا نه ټ بر دی په غرو نه په سمو نه
چه ښور وا خوری دمغلو واړه سپی دی
د سګا نو په خو له څه ا خلم نو مو نه
ګور به هم به ژړا سر کړم که یی ور ومړم
زه خو شحال د زړه دا هو مره ا لمو نه
« خوشحال خټك »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشی
و به نه ساتی خو ك خپل ننګ و نا موس
« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علا ج را څخه نه شی
په حکمت که ارسطو و ا فلا طو ن یم
د ګلو خو په هوس شپې ر نـو مـه
ا مو خته لکه شبنم په د ا شبخون یم
تلخ ویل پر رقیب شو ځوي وما ته
آخر زه شمس الدین ننګی ارم پښتون یم
«شمس الدین کاکړ»

ځو وا نخلی له غلــمه انتقام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته

مرد نه خوب کا نه خواړه کانه آرام
د هغه سری به نــه وی احترام
« خوشحال ختــك »

نام و ننګ افغانی مې ولاړ بر هم شو

انصــاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوپلزی »

واړه ننګ د پښتــانه دی ګدا نه ځی

حال یې ورځ په ورځ زبون دی ستا په غم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره

یا به و خوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال ختــك »

ننګیــالی د ننګــــد د پــا ز ه
سر په باد د سری پر بــو ز ه
چه په نام و ننګ اړ نه وی
د جهــان بــلا د ي ګل وی

په هر خه لګوی اور
چه یې نه وی ژو ندون نور
که تل ژوی مخ ئی تــور
خو دي نه وی ویې (۱) سپور
« خوشحال ختك »

سر په دار لاك شوی ښه دی
نه لــك شوی په پیغور

---

۳ ــ ټینګــتیا

قول و بول په ژوندون نشی بدلولی

ځــکه ځــان په جهل و ژنی پښتــانه
«عبدالحمید مهمند»

ځــان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه!

وا به نوډم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

ددنیــا ناوې به بیــا به نکـاح نکړم

که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زمــا خه بې اعتقــادهٔ عقیدهٔ ده

چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مړ د چه نه وی وینــا معرکــه
چه یوی زړه وی یــو ه خبــر ه

په ده به نه شی در غلــه سمه
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال ختــك »

٤ ــ ښه ځوانی :

جــار شم قربــان شم دپلار له پنده
لذت دور کړي تر ســاتل ډېر دی

را ته یې ووې زمــا فرزنده !
خوی خیر ندی ممسك له خوند ه
« عبدالقادر ختك »

دلو یې په مقام به هــاله کښېنې

که د ور کړي دمرانې به وزرځې
«عبدالقادر ختــك »

---

(۱) ویې : لفظ ، کلمه.

د خیل ځان دیاره یم درم اسراف دی    چه په بل خونه ښندې بی اسرافی ده
« عبدالقادر ختک »

تو اول کښېول دزرو ښځې کاندي    ور کول بازل یې خوی خصلت دنرو
«عبدالقادر ختک»

چه شجاعت کا دنیا په کف اری    نوم به دنیکو په هر طرف لری
هر چه حاصل کا دا د واړه خویه    هغه میراث دشاه نجف لری
« عبدالقادر ختک »

که ځوا نمردی بل آزار مکړه په گلو    ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
«عبدالقادر ختک»

چه گټل خوړول بخښل کا ځوان هغه    چه تو ره اری د توري خان هغه
کان دلعل ودیا قوت و گوهر څه دی    چه احسان تري پیدا کیږی کان هغه
چه ئی ته په گیره وخوري حیطه شی    د مجلس سره چه خوږ شی خوان هغه
که دمال دی که دملك دی که د لیچو    چه ئي توان دچا یکار شی توان هغه
په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کښی    چه د خدای په یادو در ومی آن هغه
چه دخوك دوږ اندی روستوځی داخه شی    په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مهوایه خو شحاله !    چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان ختك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن    غگ ئي تلملی دد ودی دی ترپو نان
هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته    لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغـان
که پهردر ته مرزی شی خویه کور کښی    له ادبه ځان میر ئی کړی تابه خا ن
د هرچا ځای له چه ور شی بې تکلیفه    کښې زی در ته تیار وی آش و نان
« میر احمد شاه رضو انی »

۵ ـ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را علم    ماد هسی د ماغ سر ندی را وړی
له اصلی فو لا ده هله تیغ ر غیبږ ی    په وار وارچه ځنی لاړ شی و سنپخړ ی
« خوشحال ختك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم    خوار هغه چه ئي له ما سره آهنگ دی
هر ملځی دسر بازی هنر څه ز ده    چه په دا هنر کښی سر ښندی پتنگ دی
لا تر او سه ئي ما غزه په قرار ندی    چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی
د گیندیو په ځیگر کښی ئې گولی دی    که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی
لا په خوب کښی په لرزه پر یوزی له کټه    چه دچا ترغوږ زما د توری شرنگ دی
که په دا د رومی گو رې هغه زه یم    چه مې داغ په خاطر ایښی داورنگ دی
در ست جهان می ومغل و ته خیر کړ    ځای په ځای ئي پښتانه وته قلنگ دی
ځنی څه اویه دعوی لرم په زړه کښی    ولې څه کړم چه پښتون واړه بې ننگ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه

گنه تېر تر فریدونه مې فرهنگ دی
که په تخت دیاخه کښېني هم ملنگ دی
« خوشحال ختک »

چه زما د در وېزې په کچکول لحير شی

دحاتم په زړه به سهم د سوال پرېووت
« عبد الحمید مهمند »

هسې رنگ له دې عالمه تنها خوښ یم
ترهغه چه خشک طینت د صحرا و یم
چه شاړه وبی له اقمې وزی مگس شی
چه په شان د آفتاب نده گرم رو یه
چه په قید بی د قفس کړم لکه زرکه
که بیدار لکه تصویر له خوا به نه شو

چه مدام لکه وحشي په صحرا خوښ یم
لکه موج اواره په دریا خوښ یم
کله زه د هغه خوان په صلا خوښ یم
ستا په سر که په سایه د هما خوښ یم
تر دا هسې خنداازه په ژړا خوښ یم
په دا حال له خپله بخته شیدا ! خوښ یم
« شیدا ختک »

جهان شرم نام و ننگ دی
چه وفا و رخصه [illegible]
چه یې عشق ترسره کړی
په ښا غلیو جهان ارت دی
چه خوشحال باندې نا ستی کا

که دا نه وی جهان رنگ دی
گل به څه کړي چه خوشرنگ دی
نور خوك نشته خو پتنگ دی
په غو و لیو باندی تنگ دی
دا یو زی ندی او رنگ دی
« خوشحال ختک »

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه زمری وو

په خپل دور واړه و ښه تېر کړ خپل وار
زه هم نه یم د گیدړو په قطار
« خوشحال ختک »

د حاتم غوندې مې خپل و حشم نشته
سخاوت مې په تقلید په رسم ندی
په و گړی مې خبری د مر دی شته

په عطا کښې له حاتمه برابر یم
زه له ځایه د سخی بابا پسر یم
په همت کښې په هر لوری نامور یم
« خوشحال ختک »

هر چه کاندی نوکري د باد شاهانو

خا مخا به د دربانو منت باروړی
« عبد الرحمان مهمند »

مطیع الله له موره پلار ده هم سوال مکره

سل بلا شر مندگی دی په سوال کښې
« مطیع الله پیر خیل »

در وېزه له در وېزه گرو ناکسی ده
چه رښتیني سیده صاف نه وی حمیده !

د فلك کچکول ته مه ښسه , کچکول
بولی بولی عافلان دا هسي بول
« عبدالحمید مهمند »

هسی فخر شمس الدین کاندی به عشق کښې

لکه فخر کړی پښتو ن په خپل نسب
« شمس الدین کاکړ »

دروغ ویل هغه کاچه یی وېره وی یا طمع

خوشحال په دا اړ نه دی حق به وایی خو یې سرشته
« خوشحال ختک »

روغی کتلو نه (۵۰۲۰) ... سردار محمد : ح : سراج الدین : ر : محمد امین : ن : رجب علی : ه ، اجرائیه پښتو ټولنه ۲۶-۳-۲۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**